# نبذة في العقيدة الإسلامية (شرح أصول الإيمان) (للحرمين والجمعية)

د اسلامي عقيدي لنهيز

محمد بن صالح العثيمين

## د اسلامي عقيدې لنډه پيژندنه

د فضيلة الشيخ علامة

محمّد بن صالحٍ العثيمين په قلم

الله دې هغه، د هغه مور او پلار او ټولو مسلمانانو ته بخښنه وکړي.

بسم الله الرحمن الرحيم

## سريزه

إنّ الحمد لله نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيّئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضلّ له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلّا الله وحده لا شريك له، وأشهد أنّ محمّدًا عبده ورسوله، صلّى الله عليه، وعلى آله، وأصحابه، ومن تبعهم بإحسانٍ، وسلّم تسليمًا.

أما بعد: يقيناً د توحيد علم تر ټولو غوره او لوړ علم دی، او زده کړه يې په ټولو مسلمانانو واجب او لازمه ده؛ ځکه چې دا په الله -تعالى-، د هغه په نومونو، صفتونو او پر بندګانو يې د هغه د حقونو علم دی او ځکه چې دا -علم- د الله لورې ته د ورتګ د لارې کيلي او د شريعت بنسټ دی.

لدې امله: ټولو رسولانو دې ته بلنه ورکړې ده، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ 25﴾

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ 25﴾ (او له تا مخکې مو هېڅ داسې رسول نه دی لیږلی چې هغه ته مو دا وحی نه وي کړې چې یقیناً له ما پرته بل معبود نشته نو (یوازې) زما عبادت کوئ). [الأنبیاء سورت: ۲۵ آیت].

او الله جل جلاله د خپل ذات په وحدانیت شاهدي ورکړې او د هغه ملاېکو او د علم خاوندانو - ټولو شاهدې ورکړې، الله تعالی فرمايي:

﴿شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ 18﴾

﴿شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ 18﴾ (الله په خپله د دې خبرې شاهدي وېلې ده چې له هغه پرته بل هېڅوک مستحق د عبادت نشته او ملایکې او ټول اهل علم هم په رېښتینې او منصفانه توګه پر دې شاهدان دي چې له هغه زورور با حکمته ځخه پرته په واقع کې هېڅ بل لایق د عبادت نشته) [آل عمران سورت: ۱۸ آیت].

کله چې دا د توحید مرتبه ده نو په هر مسلمان فرض دي چې د زده کړې، تدریس، تفکر او عقیدې په برخه کې ورته پاملرنه وکړي؛ تر څو خپل دین په یو سالم اساس سره بنا کړي، او په ثمرې او پایلو لاسته راوړلو یې خوشحاله شي.

الله - تعالی - توفیق ورکوونکی دی.

لیکوونکی

## *اسلامي دين*

اسلامي دين: هغه دين دی چې الله پرې محمد - صلى الله عليه وسلم - رالیږلی او ټول دینونه يې پرې پای ته رسولي، او بنده ګانو ته یې بشپړ کړی، او پدې سره يې پرې خپل نعمت تمام کړی، او دا يې د دوی لپاره دين خوښ کړی، نو لدې پرته له هيچا څخه بل دين نه منل کيږي. الله تعالى فرمايلي دي:

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمۡ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا 40﴾

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمۡ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٗا 40﴾ (محمد (صلى الله عليه واله وسلم) ستاسي له نارينه و څخه د هيچا پلار نه دی مګر هغه د الله رسول او خاتم (وروستی) د پيغمبرانو دی، او الله په هر شي علم لرونکی دی). [الأحزاب سورت: آيت ۴۰].

او الله - تعالى - فرمايلي - دي:

﴿...ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ...﴾

﴿...ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ...﴾ (نن مې ستاسو دين درته پوره کړی، خپل نعمت مې دربانديې تمام کړی او همدغه اسلام مې ستاسو د دين په توګه درته غوره کړی دی...). [المائدة سورت:۳ آيت].

او الله - تعالى - فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُ...﴾

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُ...﴾ (بېشکه الله ته منلی دین اسلام دی...) [آل عمران سورت: آیت ١٩].

او الله - تعالی - فرمایلي دي:

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ 85﴾

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ 85﴾ (او هر څوك چې له اسلامه پرته بل دین لټوي نو هیڅکله به ترې قبول نه شي او هغه به په آخرت کې له تاوانیانو وي). [آل عمران سورت: ٨٥آیت].

الله تعالی په ټولو خلکو فرض کړي چې په دې دین سره د الله تعالی بندګي وکړي، هغه خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په امر کولو سره ویلي دي:

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِيِّ ٱلۡأُمِّيِّ ٱلَّذِي يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ 158﴾

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِيِّ ٱلۡأُمِّيِّ ٱلَّذِي يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ 158﴾ (ووایه: ای خلکو! زه تاسو ټولو ته د هغه الله رسول یم چې داسمانونو او ځمکې باچاهي خاص هغه لره ده، له هغه پرته (په حق سره) بل معبود نشته هماغه ژوندي کوي او مړه کوي نو په الله او هغه رالېږلي امي نبي یې ایمان

راوړئ چې په الله او ټولو خبرو يې ايمان لري او متابعت يې وکړئ چې سمه لار وموميئ). [الأعراف سورت: ۱۵۸آيت].

او په صحيح مسلم کې أبو هريرة - رضي الله عنه - له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه روايت کوي چې هغه فرمايلي دي:

«وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ يَهُودِيٌّ وَلَا نَصْرَانِيٌّ، ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَّا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ».

«قسم په هغه ذات چې د محمد روح يې په لاس کې دی، له دې امت څخه هر يهودي يا نصراني چې زما په اړه واوري، بيا پداسې حال کې مړ شي چې زما په رسالت يې ايمان نه وي راوړی، مګر دا چې له دوزخيانو څخه به وي».[1]

او پر هغه ايمان: يعنې د هغه څه رښتيا ګڼل او غاړه ورته ايښودل چې هغه ورسره راغلی دی، يوازې رښتيا ګڼل نه، څکه ابو طالب په پيغمبر صلى الله عليه وسلم له ايمان راوړونکو څخه ندی، سره لدې چې هغه څه يې رښتيا ګڼلي و چې هغه ورسره راغلی و، او پدې يې ګواهي هم ورکړې وه چې - د پيغمبر دين - له ټولو اديانو غوره دين دی.

او اسلامي دين: ټولې هغې ښيګڼې د ځان سره لري کومې چې پخوانيو دينونو درلودې، بلکه سربيره پر هغې نورې ځانګړتياوې هم لري، دا چې د هر وخت، ځای او هر امت

---

1 مسلم: كتاب الإيمان، باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد صلى الله عليه وسلم إلى جميع الناس ونسخ الملل بملته، شمېره (153) کې نقل کړی.

لپاره مناسب دی، الله تعالی خپل پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - ته د هغه په مخاطب کرځولو سره فرمايي:

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِ...﴾

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِ...﴾ (او تا ته مو دا کتاب په حقه نازل کړی چې دا کتاب د هغه څه تصدیقوونکی دی کوم چې ترې وړاندې و او پر هغه څارونکی (یا شاهد) دی...) [المائدة سورت: ۴۸آيت].

او د هر وخت، ځای او ملت لپاره د اعتبار وړ معنی دا ده: چې په هغه باندې ټینګ پاتې کیدل په هیڅ وخت او ځای کې د ملت له ګټو سره په ټکر کې نه دي، بلکې دا د هغوی د ښېګڼې لپاره دی، او د دې معنی دا نه ده چې هغه د هر وخت، ځای او امت تابع وي، لکه څرنګه يې چې ځيني خلک غواړي.

او اسلامي دین: هغه دین دی چې الله تعالی پرې د هغه چا د مرستې ضمانت کړی دی چې څوک پرې په حقه سره منګولې ولګوي، او په نورو به برې ورکوي، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ 9﴾

﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ 9﴾ (دی هماغه ذات دی چې خپل رسول يې له هدايت او حق دين سره دې لپاره راوليږلو

چې پر ټولو دينونو يې برلاسی کړي، که څه هم مشرکانو ته بد وبريښي). [الصف سورت:٩ آيت].

او الله - تعالى - فرمايلي دي:

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ 55﴾

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ 55﴾(له تاسي چې کومو کسانو ايمان راوړی او سم کارونه يې کړي، الله ژمنه ورسره کړې ده چې خامخا به يې په ځمکه کې هماغه شان خليفه ګان وګرځوي لکه هغه خلك چې له هغوی مخکې يې خليفه ګان کړي وو او حتماً به يې هغه دين ورته محکم کړي چې هغوی ته يې خوښ کړی او له وېرې وروسته به يې حالت په امن بدل کړي، يوازې زما عبادت به کوي، هيڅ شی به راسره نه شريکوي او له هغه وروسته چې هر څوك كافر شو نو هغوی به فاسقان وي). [النور سورت:٥٥ آيت].

او اسلامي دين: عقيده او شريعت (قانون) بشپړ دين دی په عقيده او شريعت دواړو کې:

١ـ د الله تعالى په يووالي امر او له شرک څخه منع کول کوي.

۲- په رښتیا امر او له دروغو څخه منع کول کوي.

۳- په عدالت سره امر او له ظلم څخه منع کول کوي، او عدل د همجنسو شیانو تر منځ برابروالی او د یو له بل څخه د مختلفو شیانو تر منځ توپیر کول دي، او مطلقه برابري عدل ندی لکه څرنګه چې ځینې خلک کله وایي: د اسلام دین د برابرۍ دین دی، او دا خبره مطلقه کوي، ځکه یو له بل سره د توپیر لرونکو شیانو تر منځ برابروالی بې عدالتي ده چې دا شی په اسلام کې نشته، او نه یې تر سره کوونکی ستایل کیږي.

۴- په امانت امر او له خیانت څخه منع کول کوي.

۵- په وفا امر او له خیانت او دوکي څخه منع کوي.

۶- د مور او پلار سره په نیکۍ امر او دوی سره له بدۍ کولو منع کوي.

۷- په صله رحمۍ امر کوي، چې خپلوان دي، او ورسره له پرې کولو منع کوي.

۸- په ښه ګاونډیتوب امر کوي، او له بدې -رویې- څخه منع کوي.

او په عامه توګه: اسلام په هر غوره خوی باندي امر کوي او له هر سپک خوی څخه منع کوي، په هر نیک عمل امر کوي، او له هر بد عمل څخه منع کوي.

الله - تعالی - فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ 90﴾

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ 90﴾ (يقيناً الله د عدل، ښېګڼې او خپلوانو ته د ورکړې امر کوي او له بې حيايي، بدۍ او تيري نه منع کوي، هغه تاسو ته نصيحت کوي تر څو درس واخلئ). [النحل سورت: ٩٠ آيت].

### د اسلام بناوې

د اسلام بنسټونه: هغه بنيادونه چې اسلام ورباندې ولاړ دی، هغه پنځه دي. په هغه روايت کې ذکر شوې چې ابن عمر - رضي الله عنهما- له پيغمبر -صلى الله عليه وسلم- څخه روايت کړی، چې فرمايلي يې دي:

«بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسَةٍ: عَلَى أَنْ يُوَحِّدَ اللَّهَ - وَفِي رِوَايَةٍ عَلَى خَمْسٍ -: شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَصِيَامِ رَمَضَانَ، وَالْحَجِّ»

«اسلام په پنځو شيانو ولاړ دی: پر دې چې الله يو وګڼل شي - او په بل روايت کې په پنځو -: ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته، او دا چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او رسول دی، لمونځ قايمول، زکات ورکول، د رمضان روژه نيول، او حج کول» يوه سړي وويل: حج، او د رمضان روژه؟ ويې ويل:

«لَا، صِيَامُ رَمَضَانَ، وَالْحَجُّ»

«نه، د رمضان روژه، او حج» ما همداسې د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دا اورېدلي دي[1].

١ - اما دا ګواهي ورکول چې له الله پرته د عبادت وړ ذات بل نشته، او دا چې محمد ـ صلى الله عليه و سلم ـ د هغه بنده او رسول دی، نو دا هغه: کلکه عقیده ده چې په ژبې سره دا ګواهي کول ترې تعبیر کوي، لکه دې چې په خپل ټینګار سره د دې لیدونکی وي، او دا ګواهي لدې امله یو مستقل رکن ګرځیدلی سره لدې چې ګواهي ورکوونکي پرې زیات دي:

یا خو لدې امله چې: رسول الله - صلى الله عليه وسلم - د الله تعالى له طرفه رسوونکی دی، نو د هغه لپاره په بندګۍ او پیغمبرۍ ګواهي ورکول دا ګواهي بشپړوي چې له الله پرته د عبادت وړ ذات بل نشته مګر هماغه الله دی.

او یا دا چې: دا دواړه ګواهیانې د عملونو د صحت او قبلیدو لپاره اساس دی، څکه هیڅ عمل نه صحیح کیږي او نه قبلیږي، مګر الله تعالی ته په اخلاص او د هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په پیروۍ باندې.

نو الله تعالى ته په اخلاص سره د دې ګواهۍ حقیقت څرګندیږي چې: نشته لایق د عبادت په حقه سره مګر الله تعالى دی، او د پیغمبر په پیروۍ سره د دې ګواهۍ حقیقت څرګندیږي چې: بېشکه محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالى بنده او رسول دی.

---

1 بخاري په کتاب الإیمان کې په (8) شمیره، او مسلم په کتاب الإیمان، باب قول النبي صلى الله عليه وسلم بني الإسلام على خمس کې په (16) شمیره روایت کړی دی.

او ددې لويې ګواهۍ له ثمرو څخه دا دي: د زړه او نفس خلاصون د بنده له غلامۍ نه، او له پيغمبرانو پرته د بل چا له پیروۍ څخه.

۲ـ او د لمانځه ودرول: الله تعالی ته بندګي کول دي له بشپړتيا، استقامت، او په خپل وخت کې په ښه شان اداء کولو سره.

او له ګټو څخه يې: د سينې پراخېدل، د سترګو يخوالی، او له بې حيايي او منکراتو څخه منع کېدل دي.

۳ـ او د زکات ورکول: د الله تعالی بندګي کول دي د ټاکلي مال په ورکولو سره په هغه مال کې چې حق زکات پکې کيږي.

او له ګټو يې: له ناوړه خوی (بخل) څخه د نفس پاکوالی، او د مسلمانانو د حاجت پوره کول دي.

۴ـ او روژه: د رمضان په مياشت کې د ورځې لخوا له روژه ماتوونکو شيانو څخه په لاس نيولو سره د الله تعالی بندګي کول دي.

او له ګټو څخه ئې: نفس ته د خوښو شيانو په پرېښودلو سره د نفس روزل دي د الله د رضا د لاسته راوړلو لپاره.

۵ـ او د بيت الله حج: د حج د شعائرو د پر ځای کولو لپاره بيت الحرام ته په تللو سره د الله تعالی بندګي کول دي.

له ګټو يې : د الله په لار کې د نفسي او مالي هڅو په ترسره کولو سره د نفس روزنه ده، لدې امله حج د الله په لار کې يو ډول جهاد دی.

د دې بناوو دا ګټې چې مونږ يې يادونه وکړه او يا مو ورڅخه يادونه نده کړې؛ له اسلامي امت څخه يو پاک سوچه امت جوړوي، چې په حق دين سره د الله بندګي کوي، او د مخلوقاتو سره په عدالت او ريښتولۍ تعامل کوي؛ ځکه لدې پرته د دين نور پاتې شعائر د دې بناوو په اصلاح سره سميږي، او د اسلامي امت چارې د دين په اصلاح سره سميږي، او په هغه اندازه سمونتيا له لاسه ورکوي په څومره اندازه يې چې د ديني چارو سمونتيا له لاسه ورکړې وي.

او که څوک پدې اړه د وضاحت غوښتل غواړي نو د الله تعالى دا قول دې ولولي:

﴿وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ 96 أَفَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا بَيَٰتٗا وَهُمۡ نَآئِمُونَ 97 أَوَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا ضُحٗى وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ 98 أَفَأَمِنُواْ مَكۡرَ ٱللَّهِۚ فَلَا يَأۡمَنُ مَكۡرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ 99﴾

﴿وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ 96 (او که چېرى د دې کليو خلکو ايمان راوړى واى او تقوى يې کړې واى نو پر دوى به مو د اسمان او ځمکې د برکتونو (دروازې) پرانيستلې وې، خو دروغ يې وګڼل (رسولان) نو په هغه عمل کې مو راونيول چې دوى کاوه.

أَفَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا بَيَٰتٗا وَهُمۡ نَآئِمُونَ 97 آيا د دې کليو خلك له دې بې غمه وو چې د شپې په ويدو به زمونږ عذاب ورته راشي؟

يا د دې کليو خلك له دې بې غمه وو چې په (رڼا) غرمه به زموږ عذاب ورته راشي په داسې حال چې دوی به لوبې کوي.
﴿أَفَأَمِنُواْ مَكۡرَ ٱللَّهِۚ فَلَا يَأۡمَنُ مَكۡرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ 99﴾
آيا د الله له پټ تدبيره ډاډه دي؟ نو د الله له پټ تدبيره خو پرته له تباه کېدونکي قومه بل څوك نه بې غمه کيږي). [الأعراف سورت :۹۶-۹۹ آيتونه].

د مخکنيو خلکو تاريخ ته دې کتنه وشي، ځکه تاريخ د عقل د خاوندانو لپاره عبرت دی، او د هغه چا لپاره بصيرت دی چې په زړه يې پرده نه وي غوړيدلې، او الله تعالی مرسته کوونکی دی.

### د اسلامي عقيدې بنسټونه

اسلامي دين: - لکه وړاندې مو چې روښانه کړ - هم عقيده او هم شريعت، او د اسلامي دين له شعائرو څخه مو يو څه ته اشاره وکړه، او هغه رکنونه مو ذکر کړل چې د قوانينو لپاره يې بنسټ ګڼل کيږي.

او هر چې اسلامي عقيده ده: نو بنسټونه يې: په الله تعالی، په ملائکو، په کتابونو، په رسولانو، د اخرت په ورځ، د خير او شر په اندازه ايمان لرل دي.

او پدې بنسټونو باندې د الله تعالی کتاب او د هغه د رسول - صلی الله عليه وسلم - سنت دلالت کوي.

د الله تعالی په کتاب کې؛ الله تعالی فرمايي:

﴿لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ...﴾

﴿لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ...﴾

(يوازې دا کار) نيکي نه ده چې تاسي خپل مخونه ختيځ يا لوېديځ لور ته (په لمانځه کې) واړوئ؛ بلکې (غوره) ښېګڼه (نېکي) هغه ده چې څوک پر الله، د قيامت پر ورځ او ملائکو او کتابونو او پر پيغمبرانو ايمان راوړی وي...) [البقرة سورت:١٧٧ آيت]. او د تقدير په اړه فرمايي:

﴿إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرٖ 49 وَمَآ أَمۡرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٞ كَلَمۡحِۭ بِٱلۡبَصَرِ 50﴾

(بېشکه موږ هر شی په يوه ټاکلې اندازه پيدا کړی.

وَمَآ أَمۡرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٞ كَلَمۡحِۭ بِٱلۡبَصَرِ 50﴾ او زموږ امر پرته له يو وار بل شان نه دی، لکه د سترګو رپ) [القمر سورت:٤٩-٥٠ آيت].

او د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - په سنت کې؛ نبي کريم صلى الله عليه وسلم جبريل عليه السلام ته په جواب کې وايې کله يې چې ورځخه د ايمان په اړه پوښتنه وکړه:

«الْإِيمَانُ: أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ: خَيْرِهِ وَشَرِّهِ»[3].

«ایمان - دې ته وايې - چې ايمان ولرې په الله، په ملايکو، په کتابونو، په رسولانو، د آخرت په ورځ، او ايمان ولرې په تقدير؛ خير او شر يې».[1]

## په الله تعالی ایمان

او په الله تعالی ايمان څلورو شيانو ته شامليږي:

لومړی حکم: د الله - تعالی - په شتون ايمان:

د الله تعالی په شتون باندې: فطرت، عقل، شريعت او حس دلالات کوي.

١-د الله پاک په شتون باندې فطري دليل: هر مخلوق په فطرتي توګه په خپل خالق ايمان لرونکی پيدا شوی، پرته له مخکني فکر او زده کړې څخه. او لدې فطرت څخه نه اوړي مګر هغه څوک چې زړه ته يې يو څه راشي او هغه يې ورڅخه واړوي؛ دليل يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا وينا ده:

«مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ».

«هر ماشوم په فطرت سره -مسلمان- زيږيږي، خو مور او پلار يې هغه يهودي کوي، يا يې نصراني کوي او يا يې مجوسي کوي».[2]

---

1 مسلم په کتاب الإيمان کې په (8) شمېره، او ابو داود په کتاب السنة، باب في القدر، کې په (4695) شمېره روايت کړی دی.

2 بخاري په کتاب الجنائز، باب إذا أسلم الصبي فمات هل يصلى عليه، وهل يعرض على الصبي الإسلام (1292)، او مسلم په کتاب القدر، باب معنى

۲ - او د الله - تعالی - په شتون باندې عقلي دلیل: ځکه چې دا مخلوقات: مخکني او وروستني، باید یو پیدا کوونکی ولري چې دوی یې پیدا کړي وي، ځکه شوني نده چې خپل ځان دې په خپله پیدا کړي، او دا هم شوني نده چې په ناڅاپي توګه رامنځته شي.

شوني نده چې خپل ځان دې خپله پیدا کړي؛ ځکه یو شی ځان خپله نشي پیدا کولای؛ ځکه چې له شتون نه وړاندې هغه نشت (معدوم) و، نو څنګه کیدلی شي چې هغه پیدا کوونکی شي؟!

او دا هم شوني نده چې ناڅاپه دې خپله پیدا شي، ځکه د هرې پیښې تر شا باید یو ترسره کوونکی وي، او ځکه چې شتون یې پدې بې نظیره نظام، همغږۍ او تنظیم، د اسبابو او لاملونو تر منځ نه بیلیدونکي اړیکه او د کائناتو خپلمنځي اړیکه - دا ټول - د دې خبرې کلک مخنیوی کوي چې دا هر څه دي په خپله په تصادفي توګه رامنځته شوي وي؛ ځکه تصادفي شتون په خپل وجود کې اصلا په هیڅ نظام ندی، نو څنګه کیدی شي چې خپله بقا او پرمختګ دې تنظیم کړی شي؟!

کله چې دا ټول مخلوقات ځان په خپله نه شي پیدا کولای، او نه په ناڅاپي توګه رامنځته کیدی شي، نو مالومه شوه چې باید یو پیدا کوونکی ولري چې هغه رب العالمین دی.

---

کل مولود یولد علی الفطرة، وحکم موت أطفال الکفار وأطفال المسلمین، کې په (2658) شمېره نقل کړی دی.

او الله تعالی دا عقلي دلیل او پریکنده برهان د الطور په سورت کې یاد کړی دی؛ چې فرمایي:

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ 35﴾

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ 35﴾ [آیا هغوی پرته له یو څه (خالق) څخه پیدا شوي (او) که هغوی خپله پیدا کوونکي دي؟ [الطورسورت :۳۵ آیت]. یعنې دوی له خالق پرته ندي پیدا شوي، او نه دوی خپل ځانونه په خپله پیدا کړي دي، نو دا څرګنده شوه چې پیدا کوونکی یې الله تبارک و تعالی دی. لدې امله کله چې جبیر بن مطعم - رضي الله عنه -رسول الله صلی الله علیه وسلم ته غوږ نیولی و چې د الطور سورت یې لوسته او دې آیتونو ته ورسیده:

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ 35 أَمۡ خَلَقُواْ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ 36 أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمۡ هُمُ ٱلۡمُصَۜيۡطِرُونَ 37﴾

﴿أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ 35 [آیا هغوی پرته له یو څه (خالق) څخه پیدا شوي (او) که هغوی خپله پیدا کوونکي دي؟

أَمۡ خَلَقُواْ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ 36 که هغوی آسمانونه او ځمکه پیدا کړي؟ بلکې هغوی باور نه کوي.

أَمۡ عِندَهُمۡ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمۡ هُمُ ٱلۡمُصَۜيۡطِرُونَ 37﴾ که له هغوی سره ستا د پالونکي زېرمې دي؟ یا هغوی څه واکداران دي؟) [الطورت سورت :۳۵-۳۷ آیتونه].

او جبير دا مهال مشرک و، وايي: «نږدې و چې زړه مې والوځي، او دا لومړی ځل و چې ايمان مې په زړه کې ځای ونيو»[1].

راځئ چې د دې لپاره مثال وړاندې کړو: که څوک درته د يو مجلل قصر په اړه خبرې وکړي، چې خوا او شا يې باغونه وي، او په منځ کې يې وياله بهيږي، او په فرشونو او چپرکټونو ډک وي، او دا د هغې د اجزاو او تکميلاتو په هر ډول زينت سره سينګار شوي وي، او تاته ووايي: دې ماڼۍ د ټولو کمالاتو سره خپل ځان په خپله پيدا کړی، او يا په تصادفي توګه پرته له پيدا کوونکي وجود ته راغلې، نو سمدلاسه به لدې خبرې انکار وکړې او دروغ به يې وګڼې. او خبره به يې بې عقله وينا وګڼې. نو آيا لدې وروسته دا امکان لري چې دا پراخه کائنات: له ځمکې، آسمان، ستورو، حالاتو، بې نظيره زړه راښکوونکي نظام سره دې خپل ځان خپله پيدا کړی وي، او يا دا چې پرته له پيدا کوونکي دې په تصادفي توګه پيدا شوي وي!.

۳- او په شريعت کې د الله - پاک - د موجوديت په اړه دليل دا دی: چې ټول آسماني کتابونه په دې اړه وينا کوي، او هغه عادلانه حکمونه چې د مخلوقاتو ګټو ته شامليږي، د دې ثبوت دی چې دا د الله - تعالى - له لورې دي چې د خپلو مخلوقاتو پر مصالحو پوه او حکيم ذات دی، او هغه څه چې - شريعت - د کائناتو له خبرونو څخه راوړي دي چې واقعيت يې د ريښتينولۍ شاهد دی، د دې ثبوت دی چې دا د ځواکمن رب

---

1 بخاري: د: والطور سورت، په (۴۸۵۴) شمېره کې روايت کړی دی.

لخوا دي، چې د هغه څه د مونډلو توان لري چې خبر یې ورکړی دی.

۴- او د الله - تعالی په شتون باندې حسي دلیلونه له دوه وجوهو څخه دي:

یو یې دا چې: موږ د دعا کوونکو د دعا د قبلیدو، د مصیبت ځپلو سره د مرستې لیدونکي او اوریدونکي یو، چې دا د الله پاک په شتون باندې پریکنده دلیل دی، الله پاک فرمایي:

﴿وَنُوحًا إِذۡ نَادَىٰ مِن قَبۡلُ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ...﴾

(او نوح (یاد کړه) چې لا مخکې یې غږ (راته) کړی و، نو موږ یې دعا قبوله کړه...) [الأنبیاء سورت: ۷۶ آیت] او الله - تعالی - فرمایلي:

﴿إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ...﴾

﴿إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ...﴾ (هغه وخت چې کله تاسې خپل پروردګار ته فریاد کاوه، په ځواب کې هغه وفرمایل...) [الأنفال سورت: ۹آیت].

او په صحیح البخاري کې له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې:

«إنَّ أعرابيًّا دَخَلَ يَوْمَ الجُمُعَةِ -والنَّبِيُّ صلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّمَ يَخْطُبُ- فقالَ: يا رسُولَ اللَّهِ، هَلَكَ المَالُ، وجَاعَ العِيَالُ، فَادْعُ اللَّهَ لنَا؛ فَرَفَعَ يَدَيْهِ ودَعَا، فَثَارَ السَّحَابُ أمثَالَ الجِبَالِ، فَلَمْ يَنْزِلْ عَنْ مِنْبَرِهِ حتَّى رَأَيْتُ المَطَرَ يَتَحَادَرُ عَنْ لِحْيَتِهِ».

«یو باندیه چې د جمعې په ورځ -جومات- ته ننوت پداسې حال کې چې پیغمبر -صلی الله علیه وسلم- خطبه ویله، نو ویې ویل:

ای د الله رسوله! مالونه هلاک شول، اولادونه وږي شول، زمونږ لپاره د الله نه دعا وغواړه؛ نو لاسونه يې پورته کړل او دعا يې وکړه، -تر دې چې- د غرونو په څېر وريځې راخپرې شوې، او تر هغه له منبره رانښکته نه شو چې ما وليدل چې باران يې له ږيرې څڅېده»[1].

او په دويمه جمعه کې، همغه بانده چي او يا بل يو پورته شو او ويې ويل: ای د الله رسوله! ودانۍ ورانې شوې، مالونه غرق شول، مونږ ته د الله نه سوال وکړه؛ نو لاسونه يې پورته کړل، او هغه - صلی الله عليه وسلم - وويل:

«اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا»

«ای الله! زمونږ څخه يې واړوه، په مونږ يې بس کړه». نو هرې خوا ته به يې چې اشاره وکړه، هغه به صافېدله[2].

او د دعا کوونکو د قبليدو لړۍ لا تر نن ورځې همداسې د ليدو وړ چاره ده، چې دا په خپله الله -تعالی- ته په ريښتينې توګه د رجوع دليل دی، او -دې انسان- د دعا دقبيلدو شرطونه پوره کړي دي.

دويمه وجه: د پيغمبرانو نښانې چې معجزې بلل کيږي او خلک يې ګوري، او يا يې په اړه اوري، د ليږدوونکي په شتون غوڅ دليل دی، چې هغه الله تعالی دی؛ ځکه دا د بشر له واکه

---

1 بخاري په کتاب الجمعة، باب الاستسقاء في الخطبة يوم الجمعة کې په: (891) شمېره رانقل کړی دی.

2 بخاري په کتاب الجمعة، باب الاستسقاء في الخطبة يوم الجمعة، شمېره (891)، او مسلم په کتاب صلاة الاستسقاء، باب الدعاء في الاستسقاء، شمېره (897) کې نقل کړي دي.

وتې چارې دي، چې الله تعالی يې د خپلو پيغمبرانو د تاييد او مرستې په موخه اجرا کوي.

د دې بېلګه: د موسی علیه السلام معجزه ده، کله چې ورته الله - تعالی - امر وکړ چې په خپلې لکړې سره درياب ووهي، نو ويې واهه، نو وچاودېده او دولس وچې لارې پکې جوړې شوې، او تر منځه يې اوبه لکه د غرونو په څېر وې، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ 63﴾

﴿فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ 63﴾ (نو موسی ته مو وحي وکړه چې په خپله لکړه (امسا) دې سیند و وهه؛ نو هغه وچاودلو او هره ټوټه لکه لوی غر وه). [الشعراء سورت :٦٣ آیت].

دويمه بېلګه: د عيسی - عليه السلام - معجزه چې مړه به يې ژوندي کول، او د الله په اجازه به يې له قبرونو راوېستل، الله -تعالی- يې په اړه فرمايي:

﴿...وَأُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ...﴾

﴿...وَأُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ...﴾... (او مړي به ژوندي کوم، د الله په حکم...) [آل عمران سورت:٤٩ آيت] او فرمايي:

﴿...وَإِذۡ تُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِيۖ...﴾

﴿...وَإِذۡ تُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِيۖ...﴾ (...او دا چې زما په حکم دې مړي راوېستل...) [المائدةسورت :١١٠ آيت].

او دریمه بیلګه: د محمد - صلی الله علیه وسلم - ده کله چې ورځخه قریشو د معجزې غوښتنه وکړه، نو سپوږمۍ ته یې اشاره وکړه، نو دوه ټوټې شوه، او خلکو ولیده، پدې اړه الله تعالی فرمایي:

﴿ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ 1 وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٞ مُّسۡتَمِرّٞ 2﴾

﴿ٱقۡتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلۡقَمَرُ 1 وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٞ مُّسۡتَمِرّٞ 2﴾(قیامت رانیږدې شو او سپوږمۍ وچاودیده. او که دوی کومه نښه ووینې، مخ اړوي او وایي چې دا یو دوامداره جادو دی. [القمر سورت:۱ -۲ آیتونه].

نو دا حسي معجزې چې الله تعالی یې د خپلو پیغمبرانو د تایید او مرستې په موخه اجرا کوي، په پرېکنده توګه د هغه تعالی په شتون باندې دلیل دی.

دویمه خبره چې په الله -تعالی- ایمان ته شاملیږي: د هغه په ربوبیت ایمان دی، معنا دا چې هغه ذات؛ یواځې هغه رب دی چې نه شریک لري او نه مرستیال.

او پروردګار: هغه ذات دی چې پیداښت، سلطنت او حکم هغه لره دي، له هغه پرته بل هیڅ خالق نشته، له هغه پرته بل هیڅ مالک نشته او واکمني یوازې هغه لره ده، الله تعالی فرمایي:

﴿...أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ...﴾

﴿...أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ...﴾ (خبر اوسئ! پیدا کول او حکم چلول خاص هغه لره دي) [الأعراف سورت:۵۴ آیت] او فرمایي:

﴿...ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۚ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ﴾

﴿...ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۚ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ﴾ (الله همدا دی ستاسو رب، پاچايي هغه لره ده، او کوم شيان چې له هغه پرته يې تاسو رابولئ د کجورې د زړي د پوټکي څښتنان هم نه دي). [فاطر سورت:۱۳ آيت].

هېڅ کوم مخلوق د الله تعالی د ربوبيت څخه انکار ندی کړی، پرته له دې چې هغه تکبر کړی وي او په هغه څه چې وايي عقيده ونلري، لکه فرعون چې وکړل، کله يې چې خپل قوم ته وويل:

﴿فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ 24﴾

﴿فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ 24﴾ (ويې ويل: همدا زه مو تر ټولو اوچت رب يم!) [النازعات سورت: 24 ايت]، او وې ويل:

﴿...يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ مَا عَلِمۡتُ لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرِي...﴾

﴿...يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ مَا عَلِمۡتُ لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرِي...﴾(...ای د قوم مشرانو! نه پېژنم زه ستاسو لپاره د بندګۍ هېڅ حقدار پرته له ما څخه...) [القصص سورت: ايت 38]، مګر دا خبره د هغه د عقيدې پر بنياد نه وه. الله تعالی فرمايلي:

﴿وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمٗا وَعُلُوّٗاۚ...﴾

﴿وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمٗا وَعُلُوّٗاۚ...﴾ (او هغوی د ظلم او لويۍ له کبله نټه ترې وکړه، حال دا چې زړونو يې يقين پرې کړی و...) [النمل سورت: 14 ايت]. او موسی عليه السلام فرعون ته په هغه حکايت کې چې الله د هغه په اړه کړی دی، وويل:

﴿...لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورٗا﴾
﴿...لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ بَصَآئِرَ وَإِنِّي لَأَظُنُّكَ يَٰفِرۡعَوۡنُ مَثۡبُورٗا﴾ (ته خو پوهېږې چې دغه سترګې پرانیستونکې نښانې د اسمانونو او ځمکې له رب نه پرته بل چا نه دي نازلې کړې او ای فرعونه په تا مې د تباه کېدونکي ګومان دی). [الإسراء سورت: 102 ایت]، لدې امله مشرکانو د الله په ربوبیت باندې اقرار کاوه، سره لدې چې په الوهیت کې یې شرک کاوه، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قُل لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ 84 سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ 85 قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ 86 سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ 87 قُلۡ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ 88 سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ فَأَنَّىٰ تُسۡحَرُونَ 89﴾
﴿قُل لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ 84 سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ 85 قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ 86 سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ 87 قُلۡ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ 88 سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ فَأَنَّىٰ تُسۡحَرُونَ 89﴾ (ورتهووایه! (بنه نو) چا لره دي ځمکه او څه چې پکې دي؟ که چېرې تاسو پوهېږئ. ژر به ووایي: د الله لره. ورته ووایه! نو ایا تاسو نصیحت نه اخلئ؟ ورته ووایه! د اوو اسمانونو رب او د ستر عرش رب څوک دی؟ ژر به ووایي: د الله لره. ورته ووایه! نو ایا تاسو نه وېرېږئ؟ ورته ووایه! د چا په لاس کې د هر څه بادشاهي

ده او هغه پناه ورکوي او د هغه په خلاف پناه نه ورکول کيږي، که چېرې تاسو پوهېږئ. ژر به ووايي: الله لره. ورته ووايه! نو تاسې څنګه اړول کيدلی شئ (د حق نه))؟ [المؤمنون سورت:۸۴ - ۸۹ آيتونه].

او الله - تعالى - فرمايلي دي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ 9﴾

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ 9﴾ (او که هغوی وپوښتې چې آسمانونه او ځمکه چا پيدا کړي؟ هرومرو به وايي چې هغه برلاسي؛ ډېر پوه (الله) پيدا کړي دي). [الزخرف سورت:۹ آيت].

او الله پاک فرمايلي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَهُمۡ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ 87﴾

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَهُمۡ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ 87﴾ (او که ودې پوښتل چې هغوی چا پيدا کړي، هرومرو به وايي: الله، (ښه) نو بيا کوم لور ته اړول کيږي؟). [الزخرف سورت:۸۷آيت].

او د الله تعالى امر؛ کوني او شريعي دواړو ته شامل دی، نو لکه څرنګه چې هغه د کايناتو چارسمبالوونکی، او د هغه د حکمت سره سم هغه څه چې پکې وغواړي پريکړه کوونکی دی، نو همدارنګه پکې هغه واکدار دی چې عبادتونو او د معاملاتو حکمونو ته پکې مشروعيت ورکوي څرنګه يې چې حکمت تقاضا وکړي، نو څوک چې له الله - تعالى - سره په عبادت کې مشرع - قانون جوړوونکی - ونيسي او يا په معامله

کې يې حاکم وګرځوي، نو هغه په تحقيق سره د الله سره شرک وکړ، او ايمان يې عملي نه کړ.

دريمه حکم (خبره): چې په الله تعالى ايمان ورته شامليږي: د هغه په الوهيت ايمان، معنا دا چې هغه يوازې په حقه معبود دى، شريک ورته نشته، او (الإلـه) د (المألوه) په معنى دى يعنې معبود، چې د محبت او عظمت له مخې يې عبادت کيږي.

الله تعالى فرمايلي:

﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ 163﴾

﴿وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ 163﴾ (او ستاسې (په حقه) معبود يو دى، نشته بل څوک لائق د عبادت مګر هغه (الله) ډېر مهربان پوره رحم کوونکى دى). [البقرة سورت : ايت 163] او الله تعالى فرمايي:

﴿شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ ۚ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ 18﴾

﴿شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَالْمَلَائِكَةُ وَأُولُو الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ ۚ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ 18﴾ (الله په خپله د دې خبرې شاهدي وېلې ده چې له هغه پرته بل هېڅوک مستحق د عبادت نشته او ملايکې او ټول اهل علم هم په رېښتينې او منصفانه توګه پر دې شاهدان دي چې له هغه زورور با حکمته څخه پرته په واقع کې هېڅ بل لايق د عبادت نشته). [آل عمران سورت: ايت 18]، او هر چا چې له الله تعالى سره معبود ونيوو، چې له هغه پرته يې ورله بندګي کوله؛ نو د هغه الوهيت باطل دى، الله تعالى فرمايي:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ 62﴾

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ 62﴾ (دا په دې چې هماغه الله حق او څه چې هغوی يې الله نه پرته وربولي هغه باطل دي او يوازې الله اوچت (برلاسی) او لوی دی). [الحج سورت: ايت 62].

او دا چې آلهة نوم ورته اخيستل کيږي نو دا د الوهيت حق نه ورکوي، الله تعالى (لات، عزى او منات) په اړه فرمايي:

﴿إِنۡ هِيَ إِلَّآ أَسۡمَآءٞ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ...﴾

﴿إِنۡ هِيَ إِلَّآ أَسۡمَآءٞ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ...﴾ (دا پرته له يو څه نومونو بل څه نه دي چې تاسو او پلرونو مو ايښي دي، الله کوم دليل پرې نه دی نازل کړی...) [النجم سورت:۲۳ آيت].

او د هود -عليه السلام - په اړه يې فرمايلي دي چې هغه خپل قوم ته وويل:

﴿...أَتُجَٰدِلُونَنِي فِيٓ أَسۡمَآءٖ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٖۚ...﴾

﴿...أَتُجَٰدِلُونَنِي فِيٓ أَسۡمَآءٖ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّا نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٖۚ...﴾ (آيا په هغو نومونو کې شخړه راسره کوئ چې تاسو او ستاسو پلرونو ايښي دي، چې په هغو الله کوم سند (دليل) نه دی رانازل کړی؟) [الأعراف سورت:۷۲ آيت].

او د يوسف - عليه السلام - په اړه يې فرمايلي دي چې هغه د زندان دوو ملګرو ته وويل:

﴿يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ...﴾

﴿يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ءَأَرۡبَابٞ مُّتَفَرِّقُونَ خَيۡرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلۡوَٰحِدُ ٱلۡقَهَّارُ مَا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسۡمَآءٗ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ...﴾ (اى زما د زندان ملګرو! آيا ډېر بېلا بېل معبودان غوره دي که هماغه يو برلاسى الله؟ تاسو د هغه پرته د نور څه عبادت نه کوئ مګر هغه نومونه چې تاسو او ستاسو پلرونو ايښي دي، الله د هغو لپاره هېڅ دليل نه دى نازل کړى...) [يوسف سورت:۳۹-۴۰ آيتونه].

لدې امله پيغمبرانو -عليهم الصلاة و السلام- به خپلو قومونو ته ويل:

﴿...ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ...﴾

﴿...ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓ...﴾...(يوازې الله ولمانځئ، له هغه پرته ستاسو کوم معبود نشته...) [الأعراف سورت:۵۹ آيت] خو مشرکانو انکار وکړ، او له هغه پرته يې نور معبودان ونيول، د الله پاک سره به يې د هغوى عبادت کاوه، د ملاتړ لپاره به يې رابلل، او د ستونزې پر مهال به يې ترې مرسته غوښته.

الله - تعالى - د مشرکانو د دغو معبودانو نيول په دوو عقلي دليلونو سره باطل وګرځول:

لومړى: پدې معبودانو کې چې دوى -په الوهيت- نيولي دي د الوهيت هيڅ ځانګړتياوې نشته، هغه مخلوق دي پيدا کول نشي کولى، او نه يې لمانځونکو ته ګټه رسولاى شي، او نه

ورځخه ضرر دفع کولای شي، او نه ورته ژوند او نه د مرګ ورکولو اختیار لري، او نه خو له آسمانونو ځخه د ځه شي ملکیت لري، او نه پکې شراکت لري.

الله تعالی فرمایلي:

﴿وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗ لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا وَلَا يَمۡلِكُونَ مَوۡتٗا وَلَا حَيَوٰةٗ وَلَا نُشُورٗا 3﴾

﴿وَٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةٗ لَّا يَخۡلُقُونَ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ وَلَا يَمۡلِكُونَ لِأَنفُسِهِمۡ ضَرّٗا وَلَا نَفۡعٗا وَلَا يَمۡلِكُونَ مَوۡتٗا وَلَا حَيَوٰةٗ وَلَا نُشُورٗا 3﴾ (او هغوی له هغه پرته داسې معبودان (ځانته) ونیول چې هیڅ نه پیدا کوي بلکې په خپله هغوی پیدا کول کیږي، او خپلو ځانونو ته د ځه تاوان او ګټې واك نه لري او نه د مرګ، نه ژوند او نه (مړي) بیا راژوندي کېدلو واک لري). [الفرقان سورت: 3 آیت].

او الله تعالی فرمایي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥ...﴾

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥ...﴾ (ووایه: راوبولئ کوم چې تاسي له الله پرته (معبودان) انګېرلي، هغوی خو د یوې ذرې په اندازه ځه په واك کې نه لري، نه په آسمانونو کې او نه په ځمکه کې او نه یې په دې دواړو کې ځه

برخه شته او نه له هغوی څوك د الله مرستندوی دی او نه د هغه په وړاندې شفاعت ګټه رسوي مګر د هغه چا لپاره چې هغه ورته اجازه ورکړی...) [سبا سورت: ۲۲- ۲۳ آیتونه].

وقال تعالى: ﴿أَيُشۡرِكُونَ مَا لَا يَخۡلُقُ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ 191 وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ لَهُمۡ نَصۡرٗا وَلَآ أَنفُسَهُمۡ يَنصُرُونَ 192﴾

او الله تعالى فرمايلي: ﴿أَيُشۡرِكُونَ مَا لَا يَخۡلُقُ شَيۡـٔٗا وَهُمۡ يُخۡلَقُونَ 191 وَلَا يَسۡتَطِيعُونَ لَهُمۡ نَصۡرٗا وَلَآ أَنفُسَهُمۡ يَنصُرُونَ 192﴾ (آیا هغه څه ورسره شريکوي چې هېڅ شي نه پيدا کوي بلکې خپله دوی پيدا کول کيږي. او نه د دوی مرسته کولای شي او نه د خپلو ځانونو مرسته کولای شي). [الأعراف سورت: ۱۹۱-۱۹۲ آيتونه].

کله چې د دغو معبودانو دا حال وي، نو د هغوی معبود ګڼل افسوس او حماقت، او د باطلو باطل دی.

دويم: دا چي دغو مشرکانو دا اقرار کاوه چي يوازي هغه الله -جل جلاله- رب او خالق دی چې په لاس کې يې د هر څه پاچاهي ده، او هغه ذات پناه ورکوي او له هغه بل چاته پناه نه ورل کيږي، او دا -پر دوی- لازموي چې په الوهيت کې يې په يووالي ومني، لکه څرنګه چې يې په ربوبيت کې په يووالي منلی، څرنګه چې الله تعالى فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ 21 ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ 22﴾

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ 21 ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ 22﴾(اى خلكو! د خپل رب عبادت وکړئ، هغه (رب) چې تاسې او له تاسې وړاندې خلک يې پيدا کړي، کېدای شي چې تاسې ځانونه وژغورئ (د الله تعالى له عذاب څخه). هغه (رب) چې ستاسې لپاره يې ځمکه فرش کړه او اسمان يې ودان کړ او له اسمانه يې اوبه راولېږلې، نو د هغو په وسيله يې تاسې ته د ميوو رزق راوويست. نو د الله لپاره سيالان مه نيسئ په داسې حال کې چې تاسي پوهيږئ). (د البقره سورت: ٢١- ٢٢ ايتونه).

او الله تعالى فرمايلي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَهُمۡ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ 87﴾

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَهُمۡ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ 87﴾ (او که ودې پوښتل چې هغوی چا پيدا کړي، هرومرو به وايي: الله، (ښه) نو بيا کوم لور ته اړول کيږي)؟. [الزخرف سورت:87 آيت].

او الله تعالى فرمايي:

﴿قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ 31 فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَاذَا بَعۡدَ ٱلۡحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ 32﴾

﴿قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ

وَمَن يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ 31 فَذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمُ ٱلۡحَقُّۖ فَمَاذَا بَعۡدَ ٱلۡحَقِّ إِلَّا ٱلضَّلَٰلُۖ فَأَنَّىٰ تُصۡرَفُونَ 32﴾ (ورته ووايه: له اسمان او ځمکې نه څوک تاسو ته روزي درکوي او دا د اورېدو او لیدو واک څوک لري، او څوک دی چې ژوندی له مړي راوباسي او مړی له ژوندي راوباسي او د (ټولو) چارې څوک سموي؟ نو زر به ووايي چې: الله، نو ورته ووايه: آيا نو تاسو نه وېرېږئ. نو دا الله ستاسو حق رب دی، نو د حق نه وروسته څه شته مګر ګمراهي؟ نو تاسو څنګه اړول کېږئ؟). [یونس سورت: 31-32 آیتونه].

څلورمه خبره: چې په الله -تعالی- باندې ایمان ته شاملېږي: د هغه په نومونو او صفتونو ایمان دی:

یعنې: الله تعالی ته له نومونو او صفتونو څخه د هغه څه ثابتول چې الله په خپل کتاب کې ځانته ثابت کړي وي، او يا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت کې هغه لره ثابت وي لکه څرنګه چې د هغه له شان سره ښايي پرته له تحريف، تعطیل، تکییف او تمثیل څخه. الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ 180﴾

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ 180﴾ (او د الله ډېر ښه ښه نومونه دي نو په هماغو يې وبولئ او هغه خلك پرېږدئ چې د ده په نومونو کې کوږوالی کوي، دوی چې څه کول د هغو بدله به مومي). [الأعراف سورت: ایت 180] او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...وَلَهُ ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ﴾

﴿...وَلَهُ ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ﴾ (او په اسمانو او زمکه کې د هغه صفت تر ټولو لوړ دی، او هماغه حکمت والا برلاسی دی). [الروم سورت: 27 آیت] او الله تعالی فرمایي:

﴿...لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾

﴿...لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾(نشته د هغه په شان هیڅ څیز او همغه ښه اورېدونکی ښه لیدونکی دی). [الشوری سورت: ایت 11].

او پدې خبره کې دوه ډلې ګمراه شوي دي:

یوه یې: (المعطلة) ده؛ هغوی چې ټول اسماء او صفات او یا ځینې یې نه مني، پدې ګمان چې الله ته یې له ثابتولو څخه تشبیه منځته راځي، یعنې د الله - تعالی - تشبیه کول له مخلوقاتو سره یې. او دا ګمان له ډیرو وجوهاتو نه باطل دی، چې ځېنې یې دا دي:

لومړی: لدې څخه باطل لوازم رامنځته کیږي لکه؛ د الله تعالی په وینا کې تناقض او ټکر، ځکه الله - تعالی- ځانته نومونه او صفتونه ثابت کړي دي، او دا یې نفي کړي چې د هغه په څېر دې بل شی شتون ولري، که چېرته یې له ثابتولو تشبیه لازمیدله؛ نو د الله په کلام کې تناقض او ځینې یې ځینو نورو لره دروغ ګڼونکی هم لازمي دی.

دویم: په نوم او صفت کې د دوو شیانو تر منځ ورته والی د هغوی تر منځه یو شی والی نه لازموي، ځکه ته دوه تنان

ګورې چې هر يو يې: انسان، اوريدونکی، ليدونکی او خبرې کوونکی دی، او لدې دا نه لازميږي چې په انساني معناوو، اوريدو، ليدلو او خبرو کې دې دواړه سره يو شی وي.

او ته حيوانات ګورې چې لاسونه، پښې او سترګې لري او لدې برابروالي څخه دا نه لازميږي چې د دوی لاسونه، پښې او سترګي سره يو بل ته ورته وي.

نو کله چې حيوانات يو د بل په څېر نومونه او صفتونه لري او بيا هم يو له بل نه جلا دي نو د خالق او مخلوق تر منځ خو ښکاره او لوی توپير شته.

دويمه ډله: ( المشبهة ) ده، هغوی چې الله -تعالی- ته يې نومونه او صفتونه ثابت کړي خو الله تعالی يې د مخلوق سره تشبيه کړی دی، پدې ګمان چې همدا د دلايلو تقاضا ده، ځکه الله خپل بنده ګان په هغه څه سره مخاطب ګرځوي چې هغوی پرې پوهيږي، او دا ګمان له څو وجوهو نه باطل دی، لکه:

لومړی: عقل او شريعت دواړه د الله - تعالی - تشبيه کول له مخلوقاتو سره باطلوي، او هيڅ شوني نده چې د قران او سنت د نصوصو تقاضا دې باطله وي.

دويم: د اصلي معنا له اړخه؛ الله -تعالی- خپل بنده ګان په هغه څه سره مخاطبوي چې هغوی پرې پوهيږي، پاتې شو اصلي حقيقت چې هغه معنا پرې دلالت کوي نو د هغې علم په ځانګړې توګه يوازې الله -تعالی- لره دی په هغه څه کې چې د هغه د ذات او صفاتو سره تړاو لري.

نو کله چې الله ځانته ثابته کړه چې هغه اوریدونکی (سمیع) دی، نو اوریدل د اصلي معنا له اړخه معلوم دي (چې معنا یې د غږونو درک کول دي) خو د دې حقیقت د الله تعالی د اوریدو په نسبت معلوم ندی؛ ځکه چې د اوریدو حقیقت حتی په مخلوقاتو کې یو له بل سره توپیر لري؛ نو -له شک پرته- چې د خالق او مخلوق تر منځ توپیر خو تر ټولو ښکاره او لوی دی.

او کله چې الله د خپل ځان په اړه خبر ورکوي چې هغه په عرش استوا کړې ده؛ نو د اصلي معنا له اړخه استوا معلومه ده، خو حقیقي استوا چې الله په عرش کړې ده، مونږ ته معلومه نده، ځکه چې د استوا حقیقت په مخلوقاتو کې یو له بل سره توپیر لري، نو په یوه باثباته څوکۍ استوا داسې نه ده لکه د اوښ په زین چې سخت وي او ځان نه نیسي، نو کله چې دا د مخلوقاتو په حق کې ښکاره ده، نو د خالق او مخلوق تر منځ توپیر خو روښانه او لوی دی.

او په الله -تعالی- ایمان لکه څرنګه یې چې مونږ یادونه وکړه د مومنانو لپاره لویې ثمرې راوړي، له هغوی څخه دا دي:

لومړی: د الله تعالی د یووالي ثبوت، چې له هغه پرته له بل چا څخه نه امید ساتل کیږي او نه ترې ویره کیږي او له هغه پرته د بل چا عبادت نه کیږي.

دویمه: د الله -تعالی- بشپړ محبت او تعظیم لکه څرنګه چې د هغه د نومونو او عالي صفتونو غوښتنه ده.

دربمه: د هغه حقیقي بندګي کول د امر په منلو یې او د نهې څخه یې په ځان ژغورلو.

*

## په ملايکو ایمان

ملائکې: غیبي، پیدا شوی، د الله تعالى عبادت کوونکی - مخلوق- دی او د رب العزت او الهي ځانګړتیاوو څخه هیڅ هم نه لري، الله -تعالى- دوی له نور څخه پیدا کړي، د خپل امر بشپړ اطاعت او د هغه د پلي کولو ځواک یې ورکړی. الله جل جلاله فرمایي:

﴿...وَمَنۡ عِندَهُۥ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسۡتَحۡسِرُونَ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ﴾

﴿...وَمَنۡ عِندَهُۥ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسۡتَحۡسِرُونَ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفۡتُرُونَ﴾ (او هغه څوک (ملایک) چې له هغه سره دي نه یې له عبادته لویي کوي او نه ستومانه کیږي، شپه او ورځ تسبیح وایي او نه ستړي کیږي). [الأنبیاء سورت: ایت 19-20]

د هغوی شمېر زیات دی، پرته له الله یې څوک نه شي شمیرلی، او په صحیحینو کې د أنس رضي الله عنه له حدیث څخه د معراج په قصه کې روایت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته په اسمان کې بیت المعمور پورته کړی (ښکاره کړی) شو، چې هره ورځ پکې اویا زره ملایکې لمونځ کوي، نو کله چې ترې راووځي بیرته د دوی تر پایه بیا نه ورګرځي.

په ملایکو ایمان څلورو شیانو ته شاملیږي:

لومړی : د دوی په شتون ایمان.

دوهم: له دوی څخه په هغو ایمان چې مونږ یې په نوم پېژنو (لکه جبریل) او پر هغو کسانو چې موږ یې نومونه نه پېژنو؛ په اجمالي ډول ایمان لرو.

دریم: د دوی په هغه صفتونو ایمان چې مونږ ته معلوم دي لکه: د (جبریل) صفت، چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې په اړه خبر ورکړی چې هغه په داسې حال کې ولیده چې الله پرې پیدا کړی دی، هغه لره شپږ سوه وزرونه و چې فضا یې ډکه کړې وه.

او کله داسې هم کیږي چې ملایکې د الله په امر د سړي په بڼه ځانته بدلون ورکړي، لکه څرنګه چې (جبریل ته) پیښ شول، کله چې الله تعالی هغه مریم بي بي ته ولیږه او هغه یې د یو عادي انسان په بڼه جوړ کړ، او کله چې هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغی او هغه د صحابه کرامو تر منځه ناست و، د یو داسې سړي په بڼه ورته راغی چې تک سپین کالي یې پر ځان و، او تک تور ویښتان یې درلودل، د سفر هیڅ اثر پرې نه لیدل کېده، او نه له صحابه و څخه چا پېژانده، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته کېناست، خپل زنګونونه یې د هغه زنګونونو ته تکیه کړل، او لاسونه یې په ورنونو کېښودل، او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه یې د اسلام، ایمان، احسان، د قیامت ورځ او نښانو په اړه پوښتنه وکړه، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم جواب ورکړ، او ولاړ، بیا پیغمبر صلی الله علیه وسلم وویل:

«هَذَا جِبْرِيلُ؛ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ».

«دا جبریل و، تاسو ته راغلی و تر څو مو دین دروښیي»[1].
همدارنګه هغه ملاېکې چې الله تعالی ابراهیم او لوط علیهما السلام ته لیږلې وې هغه د سړیو په بڼه وې.

څلورم: هغه څه چې په ملاېکو ایمان ته شاملیږي: ایمان د هغوی په هغه کړنو دی چې مونږ ته معلومې دي او هغوی یې د الله په امر تر سره کوي؛ لکه د هغوی تسبیح ویل، او شپه او ورځ پرته له ستړتیا او کمزورۍ هغه لره عبادت کول.

او کله یې ځینو لره ځانګړې کړنې وي.

مثلا: جبریل چې د الله تعالی پر وحیې امانتدار دی، چې په هغې سره یې الله تعالی انبیاوو او رسولانو ته لیږي.

او لکه: میکائیل: چې پر باران او بوټو مقرر کړی شوی دی.

او لکه: اسرافیل: چې د قیامت د قائمېدو او د خلکو د راپورته کیدو پر مهال په شپیلۍ کې په پوکې کولو مکلف دی.

او لکه: ملک الموت: چې د مرګ پر مهال د روحونو په اخیستلو مکلف ده.

او لکه مالک: هغه چې په اور باندې مقرر دی، او هغه د اور ساتونکی دی.

او لکه د ښېلګې په توګه: هغه ملائکې چې په رحم کې پر ماشوم ګمارل شوي دي، که یو څوک د مور په رحم کې څلور میاشتې پوره کړي، نو الله تعالی ورته یوه ملائکه لیږي او

---

1 مسلم: کتاب الإیمان، باب بیان الإیمان والإسلام والإحسان ووجوب الإیمان بإثبات قدر الله سبحانه وتعالی، شمېره (8) کې نقل کړی.

ورته امر کوي چې د هغه روزي، اجل او عمل وليکي او دا چې نيکمرغه دی که بد مرغه.

او لکه د بېلګې په توګه: هغه ملاېکې چې د بني آدم د اعمالو د ساتلو او ليکلو دنده

ورسپارل شوې ده، ځکه د هر انسان لپاره دوه ملاېکې وي، يوه يې ښي او بله يې چپ اړخ ته.

او لکه د بېلګې په توګه: هغه ملاېکې چې له مړي په پوښتنې کولو ګمارل شوي دي کله چې هغه په قبر کې کېښنودل شي؛ دوه ملاېکې ورته راځي او له هغه څخه د رب، دين او د هغه د رسول په اړه پوښتنې کوي.

او په ملاېکو ايمان لويې ګټې لري؛ ځينې يې دا دي:

لومړی: د الله تعالی د عظمت، ځواک او واک په اړه پوهه؛ ځکه د مخلوق عظمت د خالق د عظمت څرګندونه کوي.

دويم: بني آدم ته د پاملرنې په خاطر د الله تعالی د شکر ادا کول؛ چې هغه لدې ملاېکو څخه ځينې ګمارلي تر څو د دوی ساتنه وکړي، د دوی اعمال وليکي، او د دوی د نورو ګټو په خاطر.

دريم: د ملاېکو سره مينه د هغه څه له امله چې دوی د الله تعالی عبادت کوي.

ځينو منحرفينو دا رد کړې چې ملائکې جسدونه دي او ويلي يې دي: دا په مخلوقاتو کې د خير او ښېګڼې له يو پټ ځواک څخه عبارت دی، او دا خبره د الله تعالی د کتاب او د

هغه د رسول صلى الله عليه وسلم له سنتو او د مسلمانانو له اجماع څخه انكار دى.

الله تعالى فرمايلي:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ...﴾

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ جَاعِلِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجۡنِحَةٖ مَّثۡنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ...﴾ (الله لره ستاينه ده، له نوي سره د اسمانو او ځمكې پيدا كونكي (لره)، د دوه دوه، درې درې او ځلورو ځلورو وزرونو والا ملايكو استازى ګرځوونكي (الله) لره...) [فاطر سورت: 1 آيت].

او الله تعالى فرمايلي:

﴿وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ...﴾

﴿وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذۡ يَتَوَفَّى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَضۡرِبُونَ وُجُوهَهُمۡ وَأَدۡبَٰرَهُمۡ...﴾ (او كه هغه كافران ووينې چې ملايكې يې روح اخلي او په مخونو او ځتونو يې وهي...) [الأنفال سورت: ايت 50].

او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿...وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ...﴾

﴿...وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ...﴾(...او كه تا ليدلى چې كله داسې ظالمان د مرګ په سختيو كې (غوټې وهي) او ملايكې په

غځولو لاسونو (ورته وايي) را و باسئ ساګاني مو!...) [الأنعام سورت: 93 آيت].

او الله تعالى فرمايي:

﴿...حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمۡ قَالُواْ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمۡۖ قَالُواْ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ﴾

﴿...حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمۡ قَالُواْ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمۡۖ قَالُواْ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ﴾ (...تر هغو چې له زړونو يې وېره لېرې شي، وايي: ستاسو رب څه وويل؟ (په ځواب کې) ورته وايي حق (يې وويل) او همغه ډېر اوچت او لوی دی). [سبأ سورت: 23 آيت].

او د جنتيانو په اړه فرمايي:

﴿...وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَدۡخُلُونَ عَلَيۡهِم مِّن كُلِّ بَابٖ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ﴾

﴿...وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَدۡخُلُونَ عَلَيۡهِم مِّن كُلِّ بَابٖ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ﴾ (...او ملايکې به هم له هرې دروازې ورننوځي، سلام دې وي پر تاسې د صبر په بدل کې، پس ښه انجام د کور د آخرت دی). [الرعد سورت: 23-24 آيتونه].

په صحيح البخاري کې ابو هريره رضي الله عنه له نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه وفرمايل:

«إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ الْعَبْدَ نَادَى جِبْرِيلَ: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحْبِبْهُ، فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ، فَيُنَادِي جِبْرِيلُ فِي أَهْلِ السَّمَاءِ: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ، فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ، ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي الْأَرْضِ».

«کله چې الله له بنده سره مينه وکړي، نو جبرائيل ته غږ وکړي چې: الله له فلاني سره مينه لري، نو له هغه سره مينه ولره! نو جبرائيل له هغه سره مينه پيدا کړي، بيا جبرائيل د اسمان پر اوسيدونکو غږ وکړي چې: الله له فلاني سره مينه لري، نو له هغه سره مينه ولرئ! نو د آسمان اوسيدونکي له هغه سره مينه پيدا کړي، بيا ورته په ځمکه کې قبوليت وموندل شي»[1].

او په صحيح البخاري کې همدا رنګه له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ كَانَ عَلَى كُلِّ بَابٍ مِنْ أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ الْمَلَائِكَةُ يَكْتُبُونَ الْأَوَّلَ فَالْأَوَّلَ، فَإِذَا جَلَسَ الْإِمَامُ طَوَوْا الصُّحُفَ وَجَاءُوا يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ»[10].

«کله چې د جمعې ورځ شي د جومات په دروازو کې ملايکې وي او يو د بل پسې -نومونه- ليکي، کله چې امام کيني کتابونه بند کړي او راشي وعظ ته غوږ ونيسي»[2].

او پدې دليلونو کې صراحت دی پر دې چې ملاېکې جسمونه دي؛ نه معنوي ځواک، لکه څرنګه چې منحرف

---

[1] بخاري: کتاب بدء الخلق، باب ذکر الملائکة، شمېره (۳۰۳۷)، او مسلم: کتاب البر والصلة والآداب، باب إذا أحب الله عبدا، حببه إلى عباده، شمېره (۲۶۳۷) کې روايت کړي دي.

[2] بخاري په کتاب الجمعة، باب الاستماع إلى الخطبة، شمېره (887)، او مسلم په کتاب الجمعة، باب فضل التهجير يوم الجمعة، شمېره (850) کې نقل کړي.

خلک وايي، او د دې دلايلو پر مقتضی مسلمانانو هم اجماع کړې ده.

*

## په کتابونو ايمان

کتب: د (کتاب) جمع ده او معنی یې ده: (ليکلی شوی).

او دلته ورڅخه مراد: هغه کتابونه دي چې الله تعالی په خپلو پيغمبرانو باندې؛ پر بنده ګانو د رحمت او د هغوی د لارښوونې په موخه نازل کړي دي؛ تر څو پرې دوی د دنيا او آخرت خوشحاليو ته ورسيږي.

او په کتابونو ايمان څلور شيانو ته شامليږي:

لومړی: پر دې ايمان چې دا د الله تعالی له لورې په حقه نازل شوي دي.

دويم: په هغو کتابونو ايمان چې مونږ يې نومونه پيژنو لکه: قرآن چې پر محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوی او تورات چې پر موسی صلی الله عليه وسلم باندې نازل شوی دی. او انجيل چې پر عيسی صلی الله عليه وسلم نازل شوی دی. او زبور هغه چې داود صلی الله عليه وسلم ته ورکړل شوی و. او هغه چې مونږ يې نوم ندی اوريدلی نو په اجمالي توګه پرې ايمان لرو.

دريم: د هغه خبرونو يې رينتيا ګڼل چې صحيح ثابت دي، لکه قرآن چې د څه په اړه خبر ورکړی، او هغه څه چې پخوانيو کتابونو يې په اړه خبر ورکړی پدې شرط چې تبديل او تحريف پکې نه وي شوی.

څلورم: په هغو حکمونو يې عمل کول چې منسوخ شوي ندي، او هغې ته غاړه اېښودل او خوښي پرې څرګندول، برابره خبره ده که په حکمت يې پوه شوي يو يا نه، او مخکني ټول کتابونه په قرآن کريم سره منسوخ شوي دي، الله تعالى فرمايلي:

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ...﴾

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ...﴾ (او تا ته مو دا کتاب په حقه نازل کړی چې دا کتاب د هغه څه تصديقوونکی دی کوم چې ترې وړاندې و او پر هغه څارونکی (يا شاهد) دی...) [المائدة سورت: 48 آيت] يعنې: پرې حاکم دی.

په دې اساس: د پخوانيو کتابونو په هيڅ حکم باندې عمل کول روا نه دي، پرته لدې چې صحت يې نه وي ثابت شوی او قرآن تاييد کړی نه وي.

په کتابونو ايمان لويې ثمرې لري. له هغوی څخه ځينې دا دي:

لومړی: خپلو بنده ګانو ته د الله تعالى په پاملرنې پوهېدل؛ چې هغه د هر قوم لپاره يو کتاب نازل کړی تر څو پرې دوی ته لارښوونه وکړي.

دويم: په شريعت کې د الله تعالى په حکمت پوهېدل؛ چې د هر قوم لپاره يې د دوی د شرايطو سره سم شريعت ټاکلی، لکه چې الله تعالى فرمايلي:

﴿...لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ...﴾

﴿...لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ وَمِنۡهَاجٗاۚ...﴾ (...له تاسي نه هر یوه ته مو یو شریعت او تګلاره ټاکلې ده...) [المائدة سورت: ایت 48].

دریم: پدې سره د الله تعالی شکر ادا کول.

*

## په رسولانو ایمان

الرسل: د (رسول) جمع ده، معنا یې: (لیږل شوی) ده، هغه څوک چې د یو څه په رسولو سره لیږل شوی وي.

دلته ورڅخه موخه: له انسانانو څخه هغه څوک دی چې یو قانون ورته وحیې شوی وي او د هغه په رسولو ورته امر شوی وي.

لومړی رسول نوح علیه السلام وو (په رد د شرک) او وروستی یې محمد صلی الله علیه وسلم دی.

الله تعالی فرمایلي:

﴿ إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ...﴾

﴿ إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ...﴾ (یقیناً موږ تا ته هماغه شان وحي درلیږلې ده لکه نوح او له هغه وروسته نبیانو ته مو چې ورلیږلې ده...) (النساء سورت: ۱۶۳ ایت).

په صحیح البخاري کې له انس بن مالک رضي الله عنه څخه د شفاعت په حدیث کې روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم:

«ذُكِرَ أَنَّ النَّاسَ يَأْتُونَ إِلَى آدَمَ؛ لِيَشْفَعَ لَهُمْ، فَيَعْتَذِرُ إِلَيْهِمْ وَيَقُولُ: ائْتُوا نُوحًا أَوَّلَ رَسُولٍ بَعَثَهُ اللَّهُ» وذكر تمام الحديث[11].

«يادونه وکړه چې خلک به آدم ته ورشي تر څو ورته سفارش وکړي، نو هغه به ورته عذر وړاندې کړي او وبه وايي: نوح ته ورشئ، هغه لومړی رسول دی چې الله لیږلی دی» او ټول حدیث یې ذکر کړ.[1]

او الله تعالی د محمد صلی الله علیه وسلم په اړه فرمايي:

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٖ مِّن رِّجَالِكُمۡ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَۗ...﴾

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٖ مِّن رِّجَالِكُمۡ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَۗ...﴾ (محمد (صلی الله علیه واله وسلم) ستاسي له نارينه و څخه د هيچا پلار نه دی مګر هغه د الله رسول او خاتم (وروستی) د پيغمبرانو دی...) [الأحزاب سورت].

هیڅ امت داسې نه دی پاتې شوی چې الله تعالی ورته یو رسول نه وي لیږلی؛ داسې رسول چې خپلې قوم ته د الله له لوري یوه خپلواکه شریعت راوړي، یا داسې نبي چې د پخواني نبي د شریعت له مخې ورته وحي کیږي، تر څو هغه شریعت بیا تازه او نوي کړي. الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ...﴾

---

[1] بخاري په کتاب التوحيد، باب قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: ﴿لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ﴾، کې په (7410) شميره، او مسلم په کتاب الايمان، باب أدنى أهل الجنة منزلة فيها، کې په (193) شميره روايت کړی دی.

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ...﴾ (او موږ هر ولس ته یو رسول ولیږه چې د الله تعالی بنده ګي وکړئ او له طاغوت څخه ځان وساتئ...) (د النحل سورت: ۳۶ ایت)

او الله تعالی فرمايي:

﴿...وَإِن مِّنۡ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٞ﴾

﴿...وَإِن مِّنۡ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٞ﴾ (...او هيڅ يو داسې ولس به نه وي چې کوم وېروونکی پکې نه وي تېر شوی). [فاطر سورت: ايت 24].

او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ...﴾

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ...﴾ (تورات خو موږ نازل کړی چې په هغه کې لارښوونه او رڼايي ده په دې سره به هغو نبیانو چې تابع وو، د يهوديانو فيصلې کولې...). [المائدة سورت: 44 ايت].

او رسولان پيدا کړی شوي انسانان دي، د ربوبيت او الوهيت هيڅ کومه ځانګړتيا نه لري، الله تعالی د خپل نبي په اړه چې د پيغمبرانو سردار او د الله پر وړاندې تر ټولو د لويې مرتبې خاوند دی فرمايي:

﴿قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ 188﴾

﴿قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ 188﴾ (ووايه: زه خپل ځان ته هم د ګټې او تاوان واك نه لرم، مګر څه چې الله غواړي او كه زه په غيبو پوهېدلى نو ډېرې ګټې به مې كړې وې او هېڅ زيان به نه و را رسېدلى، زه مومنانو ته له يو وېروونكي او زېري وركوونكي پرته بل څه نه يم). [الأعراف سورت: ايت 188]

.

او الله تعالى فرمايي:

﴿قُلۡ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا رَشَدٗا 21 قُلۡ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٞ وَلَنۡ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدًا 22﴾

﴿قُلۡ إِنِّي لَآ أَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا رَشَدٗا 21 قُلۡ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٞ وَلَنۡ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدًا 22﴾ (ورته ووايه: زه تاسي ته نه د تاوان رسولو واك لرم او نه د خير بښېګنې ٢١ ووايه: چې هېڅوک ما له الله څخه نشي ژغورلى او نه له هغه پرته بل پنا ځاى پيدا كولى شم). [الجن سورت:21-22 ايتونه].

دوى انساني ځانګړتياوې لري لكه: ناروغتيا، مرګ، خوراک او څښاک او داسي نور، الله تعالى د ابراهيم عليه الصلاة والسلام په اړه فرمايي چې هغه له خپل رب څخه يادونه كوي.

﴿وَٱلَّذِي هُوَ يُطۡعِمُنِي وَيَسۡقِينِ 79 وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ 80 وَٱلَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحۡيِينِ 81﴾

﴿وَٱلَّذِي هُوَ يُطۡعِمُنِي وَيَسۡقِينِ 79 وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ 80 وَٱلَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحۡيِينِ 81﴾ (او هغه ذات چې ماته خوراك او څښاك راكوي. او كله چې زه ناروغ شم، نو هغه مې روغتيا راكوي. او هغه ذات چې ماته مرګ راكوي بيا مې ژوندى كوي). [الشعراء سورت: ايتونه 79-81].

او نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ، أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ، فَإِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُونِي».

«إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ، أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ، فَإِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُونِي» «يقينا زه ستاسو په څېر يو انسان يم، هيرووم لكه څنګه چې تاسو هيروئ، كله چې يو څه هير كړم نو راياد يې كړئ».[1]

او الله تعالى د دوى په لوړو مرتبو كې دوى په بنده ګۍ سره ياد كړي دي، د دوى د توصيف په لړۍ كې؛ الله - تعالى - د نوح - صلى الله عليه وسلم - په اړه فرمايلي دي:

﴿...إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا﴾

﴿...إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا﴾ (بېشكه نوح يو شكر كوونكى بنده و). [الإسراء سورت: ايت 3]، او د محمد - صلى الله عليه وسلم - په اړه يې فرمايلي دي:

﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا 1﴾

﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا 1﴾ (هغه ذات بركتناك دى چې فرقان يې پر خپل بنده نازل

---

[1] بخاري په أبواب القبلة، باب التوجه نحو القبلة حيث كان، شمېره (392)، او مسلم په كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب السهو في الصلاة، والسجود له، شمېره (572) كې نقل كړي.

کړی تر څو د ټولو خلکو لپاره خبرداری ورکوونکی وي).
[الفرقان سورت: 1 ایت].

او د ابراهیم، اسحاق او یعقوب - صلی الله علیهم وسلم - په اړه فرمایي:

﴿وَٱذۡكُرۡ عِبَٰدَنَآ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ أُوْلِي ٱلۡأَيۡدِي وَٱلۡأَبۡصَٰرِ 45 إِنَّآ أَخۡلَصۡنَٰهُم بِخَالِصَةٖ ذِكۡرَى ٱلدَّارِ 46 وَإِنَّهُمۡ عِندَنَا لَمِنَ ٱلۡمُصۡطَفَيۡنَ ٱلۡأَخۡيَارِ 47﴾

﴿وَٱذۡكُرۡ عِبَٰدَنَآ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ أُوْلِي ٱلۡأَيۡدِي وَٱلۡأَبۡصَٰرِ 45 إِنَّآ أَخۡلَصۡنَٰهُم بِخَالِصَةٖ ذِكۡرَى ٱلدَّارِ 46 وَإِنَّهُمۡ عِندَنَا لَمِنَ ٱلۡمُصۡطَفَيۡنَ ٱلۡأَخۡيَارِ 47﴾ (او زموږ (خاص) بندګان ابراهیم، اسحاق او یعقوب (علیهم السلام) در یاد کړه چې د لاسو او سترګو خاوندان وو. بېشکه موږ هغوی د يوې خالصې (صفتي) سره خالص کړي وو چې د آخرت يادونه ده. او بېشکه هغوی زموږ په نزد غوره کړل شوي غوره کسان دي).
[ص سورت: ۴۵-۴۷ ایتونه].

او د عیسی علیه السلام په اړه یې فرمایلي:

﴿إِنۡ هُوَ إِلَّا عَبۡدٌ أَنۡعَمۡنَا عَلَيۡهِ وَجَعَلۡنَٰهُ مَثَلٗا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ 59﴾

﴿إِنۡ هُوَ إِلَّا عَبۡدٌ أَنۡعَمۡنَا عَلَيۡهِ وَجَعَلۡنَٰهُ مَثَلٗا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ 59﴾
(هغه له یو بنده پرته بل څه نه و چې موږ لورېینه پرې کړې وه او د بني اسرائیلو لپاره مو یو مثال ګرځولی و). [الزخرف سورت: ایت 59].

پر رسولانو ایمان څلورو شیانو ته شاملېږي:

لومړی: پدې ایمان لرل چې د دوی پیغمبري (رسالت) د الله تعالی لخوا حق ده، نو چا چې له دوی څخه د یو په رسالت کفر وکړ، نو په ټولو کافر شو، لکه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿كَذَّبَتۡ قَوۡمُ نُوحٍ ٱلۡمُرۡسَلِينَ 105﴾

﴿كَذَّبَتۡ قَوۡمُ نُوحٍ ٱلۡمُرۡسَلِينَ 105﴾

(د نوح قوم (هم) رسولان درواغجن وګڼل). [الشعراء سورت: 105 ایت] نو الله تعالی د ټولو پیغمبرانو دروغ ګڼونکي وبلل، سره لدې چې له هغه پرته بل پیغمبر نه و، کله یې چې د هغوی تکذیب وکړ، په دې اساس هغه عیسویان چې د محمد صلی الله علیه وسلم څخه یې انکار کاوه او د هغه پیروي یې نه کوله؛ دوی د مسیح زوی د مریمې څخه انکار وکړ او د هغه پیروي یې هم ونه کړه، په ځانګړې توګه عیسی علیه السلام دوی ته پر محمد صلی الله علیه وسلم زیری ورکړی و. او دوی ته زیري ورکولو بله معنی نه درلوده پرته لدې چې هغه هغوی ته یو پیغمبر و، چې الله پرې له ګمراهي ژغورل، او سمې لارې ته یې د هغوی لارښوونه کوله.

دویم: د هغوی له جملې پر هغو ایمان راوړل چې نومونه یې پېژنو، لکه: محمد، ابراهیم، موسی، عیسی، او نوح -علیهم الصّلاة والسّلام- دا پنځه واړه اولوالعزم پیغمبران دي او الله تعالی په قرآنکریم کې په دوو ځایونو کې د هغوی یادونه پدې قول سره کړې ده:

﴿وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمۡ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٖ وَإِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۖ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا 7﴾

﴿وَإِذۡ أَخَذۡنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمۡ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٖ وَإِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۖ وَأَخَذۡنَا مِنۡهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظٗا 7﴾ (او هغه مهال چې موږ له پیغمبرانو او له تا، نوح، ابراهیم، موسی او د مریمې زوی عیسی نه لوظ واخیست، او ښه پوخ لوظ مو ترې واخیست). [الأحزاب سورت: 7 آیت] او د هغه وینا:

﴿شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحٗا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ 13﴾

﴿شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحٗا وَٱلَّذِيٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ كَبُرَ عَلَى ٱلۡمُشۡرِكِينَ مَا تَدۡعُوهُمۡ إِلَيۡهِۚ ٱللَّهُ يَجۡتَبِيٓ إِلَيۡهِ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِيٓ إِلَيۡهِ مَن يُنِيبُ 13﴾ (تاسو ته یې هماغه دین ټاکلی (بیان کړی) چې په هغه سره یې نوح ته سپارښتنه کړې وه، او هغه چې تا ته مو وحی کړې، او چې په هغه سره موږ ابراهیم، موسی او عیسی -علیهم السلام- ته سپارښتنه کړې وه، چې (همدغه) دین قائم کړئ او اختلاف مه پکې اچوئ، مشرکانو باندې هغه خبره ډېره درنه ده چې ته یې وربلې، ځوک چې الله یې وغواړي خپل لور ته یې غوره کوي او خپل لور ته یې هدایت کوي ځوك چې هغه ته ورګرځي). [الشوری سورت: ۱۳ آیت].

او له دوی چې د څا نوم نه پیژنو؛ نو اجمالي ایمان پرې لرو، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ مِنۡهُم مَّن قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّن لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَۗ...﴾

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ مِنۡهُم مَّن قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّن لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَۗ...﴾ (او بېشکه موږ له تا مخکې هم رسولان لیږلي چې موږ یې تا ته د ځینو (حالات) بیان کړي او د ځینو مو نه دي درته بیان کړي...) [غافر سورت: ایت 78].

دريم: د دوی د هغو خبرو تصديق چې صحت يې ثابت دی.

څلورم: د هغو په شريعت عمل کول چې موږ ته له دوی څخه رالیږل شوي دي او د دوی وروستی محمد -صلی الله عليه وسلم- دی چې ټولو خلکو ته لیږل شوی دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا 65﴾

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا 65﴾ (نو، نه، په رب دې قسم تر هغه نه شي مومنان کېدلی چې خپل منځي شخړو کې دې فيصله کوونکی ونه ټاکي، بيا ستا له پرېکړې په زړونو کې څه خپګان هم ونه مومي او بنه پخه يې ومني). [النساء سورت: ایت 65].

په پيغمبرانو ايمان ډېرې سترې ګټې لري، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

لومړۍ: د الله تعالی په رحمت او بندګانو ته د هغه په پاملرنې پوهېدل، چې دوی ته يې پيغمبران ليږلي، تر څو يې

د الله تعالی لارې ته لارښوونه وکړي، او ورته وښايي چې څرنګه بايد د الله - تعالی - عبادت وکړي؛ ځکه چې د انسان ذهن د دې په پوهيدو کې خپلواک نه دی.

دويمه: په دې لوی نعمت د الله تعالی شکر ويستل.

دريمه: د پيغمبرانو - عليهم الصلاة والسلام - سره محبت او د هغوی قدرداني کول، او د هغوی ستاينه په هغه څه سره چې مستحق يې دي، ځکه چې دوی د الله تعالی رسولان دي او د هغه عبادت کوي، د هغه پيغام رسوي او د هغه بندګانو ته نصيحت کوي.

ضد کوونکو د خپلو پيغمبرانو څخه انکار وکړ او ګمان يې وکړ چې د الله تعالی رسولان له انسانانو څخه نه وي! الله تعالی د دوی له دې ګمان څخه يادونه وکړه او پدې وينا سره يې باطل کړ:

﴿وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا 94 قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا 95﴾

﴿وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ أَن يُؤۡمِنُوٓاْ إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَبَعَثَ ٱللَّهُ بَشَرٗا رَّسُولٗا 94 قُل لَّوۡ كَانَ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَلَٰٓئِكَةٞ يَمۡشُونَ مُطۡمَئِنِّينَ لَنَزَّلۡنَا عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَلَكٗا رَّسُولٗا 95﴾ (او کله چې دغو خلکو ته هدايت راغی نو له ايمان راوړلو نه کوم بل شي ايسار نه کړل پرته له دې چې ويل به يې: آيا الله يو انسان د رسول په توګه راليږلی؟ ووايه که په ځمکه کې ملايکې په ډاډه زړه ګرځېدې نو مونږ به په دوی باندې له اسمانه يوه ملايکه رسول راليږلی و). [الإسراء سورت: 94-95 آيتونه].

نو الله پاک دا ګمان پدې سره باطل کړ چې رسول باید انسان وي. ځکه چې د ځمکې خلکو ته رالیږل شوی او دوی انسانان دي، او که چیرته د ځمکې خلک ملایکې وای، نو الله به دوی ته له آسمانه ملایک رسول رالیږلي و، تر څو د دوی په څیر شي، همدا رنګه الله تعالی پیغمبرانو لره د دروغ ګڼونکو حکایت بیان کړ چې هغوی ویلي دي:

﴿...إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتُونَا بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ قَالَتۡ لَهُمۡ رُسُلُهُمۡ إِن نَّحۡنُ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأۡتِيَكُم بِسُلۡطَٰنٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ...﴾

﴿...إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا تُرِيدُونَ أَن تَصُدُّونَا عَمَّا كَانَ يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا فَأۡتُونَا بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ قَالَتۡ لَهُمۡ رُسُلُهُمۡ إِن نَّحۡنُ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَمُنُّ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦۖ وَمَا كَانَ لَنَآ أَن نَّأۡتِيَكُم بِسُلۡطَٰنٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ...﴾ (...نه یاست تاسي مګر زموږ په شان بشر یاست، غواړئ له هغه څه مو ایسار کړئ چې زموږ پلرونو یې عبادت کولو، پس یو څرګند دلیل خو راته راوړئ. پیغمبرانو یې ورته وویل: موږ نه یو مګر ستاسو په شان بشر، مګر الله په خپلو بندګانو کې چې چاته وغواړي لورینه کوي، او موږ ته دا نه ده روا چې تاسو ته کوم دلیل راوړو مګر د الله په حکم سره...) [إبراهيم سورت: ۱۰-۱۱ ایتونه].

*

## د اخرت په ورځ ایمان

د آخرت ورځ: د قیامت ورځ ده، هغه چې خلک پکې د حساب او جزا لپاره راپورته کیدی شي.

او دا ورځ په آخرت سره ځکه یاده شوې ده چې؛ له هغې وروسته بله ورځ نشته؛ چې جنتیان به خپلو ځایونو کې میشت شي او دوزخیان به خپلو ځایونو کې.

او د آخرت په ورځ ایمان درې چارو ته شاملیږي:

لومړی: په بیا راژوندي کېدو ایمان: چې هغه د مړو ژوندي کېدل دي کله چې په شپیلۍ کې دویم پوکی وشي؛ نو خلک به د رب العالمین حضور ته پورته شي، په لوڅو پښو چې بوټان به یې نه وي، لوڅ او بې پردې، او پداسې حالت کې چې سنت به نه وي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...كَمَا بَدَأۡنَآ أَوَّلَ خَلۡقٖ نُّعِيدُهُۥۚ وَعۡدًا عَلَيۡنَآۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ﴾

﴿...كَمَا بَدَأۡنَآ أَوَّلَ خَلۡقٖ نُّعِيدُهُۥۚ وَعۡدًا عَلَيۡنَآۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ﴾ (ځنګه چې لومړی ځل پیدایښت مو پیل کړی و، هماغسې به یې بیا راګرځوو، دا په موږ وعده ده موږ خامخا د دې کار کوونکي یو). (د الأنبیاء سورت: ۱۰۴ ایت)

بیا راپورته کېدل: ثابت شوی حق دی، چې قرآن، سنت او د مسلمانانو اجماع پرې دلالت کوي.

الله تعالی فرمایلي:

﴿ثُمَّ إِنَّكُم بَعۡدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ 15 ثُمَّ إِنَّكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ تُبۡعَثُونَ 16﴾

﴿ثُمَّ إِنَّكُم بَعۡدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ 15 ثُمَّ إِنَّكُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ تُبۡعَثُونَ 16﴾

(بیا له هغه وروسته تاسو هرومرو مړه کېدونکي یاست. بیا د قیامت په ورځ تاسو راژوندي کول کیږئ). [المؤمنون سورت: 15-16 آیتونه].

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا».
«خلک به د قيامت په ورځ پښې ابل، بربنډ او نا سنت راپورته کيږي»[1]. متفق عليه.

مسلمانانو له مرګ نه وروسته د بيا راپورته کېدلو په ثبوت اجماع کړې ده؛ او حکمت هم دا تقاضا کوي چې الله تعالی دا مخلوقات بيا راژوندي کړي، تر څو دوی ته د هغه څه بدله ورکړي چې په هغه سره يې خپل پيغمبران ورليږلي وو. الله تعالی فرمايلي دي:

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ 115﴾
﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ 115﴾ (نو آيا تاسو دا ګومان کړی و چې موږ عبث (چټي) پيدا کړي ياست او تاسو به موږ ته نه راګرځئ) [المؤمنون سورت: 115 آيت] او خپل نبي صلی الله عليه وسلم ته يې فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِي فَرَضَ عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٖ...﴾
﴿إِنَّ ٱلَّذِي فَرَضَ عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٖ...﴾ (بې شکه هغه ذات چې فرض کړی يې دی پر تا باندې دا قران، خامخا واپس کوي به تا لره ځای د واپسی ته...) [القصص سورت: 85 ايت].

---

1 مسلم په كتاب الجنة، وصفة نعيمها وأهلها، باب فناء الدنيا، وبيان الحشر يوم القيامة، کې په (۲۸۵۹) شمېره روايت کړی دی.

دویم: په حساب او جزا ایمان: بنده سره د خپلو اعمالو حساب کیږي او بدله پرې ورکول کیږي، او پدې خبره کتاب (قران)، سنت او د مسلمانانو اجماع دلالت کوي.

الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ إِلَيۡنَآ إِيَابَهُمۡ 25 ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا حِسَابَهُم 26﴾

﴿إِنَّ إِلَيۡنَآ إِيَابَهُمۡ 25 ثُمَّ إِنَّ عَلَيۡنَا حِسَابَهُم 26﴾ (بېشکه د هغوی را ګرځېدل زموږ لوري ته دي. بیا بېشکه د هغوی حساب زموږ په غاړه دی). [الغاشية سورت: ۲۵-۲۶ ایتونه]

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ 160﴾

﴿مَن جَآءَ بِٱلۡحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشۡرُ أَمۡثَالِهَاۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَا وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ 160﴾ (چا چې ښېګڼه وکړه نو هغه ته يې لس برابره (ثواب) دی، او څوك چې له بدی سره راغی نو له یو برابر پرته کومه (زیاته) سزا نه ورکول کیږي، او نه به کوم ظلم پرې وشي). [الأنعام سورت: ایت 160] او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ 47﴾

﴿وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ 47﴾ (او موږ به د قیامت ورځې ته د انصاف تلې ږدو، نو بیا به په هیڅا هېڅ ظلم ونه شي که (څه هم يو عمل) د اوري دانې په

اندازه وي، موږ به يې راوړو، او پوره يو موږ حساب کوونکي). [الأنبياء سورت: ايت 47].

او له ابن عمر - رضي الله عنهما - څخه روايت دی چې پيغمبر - صلى الله عليه وعلى آله وسلم - فرمايلي:

«إِنَّ اللَّهَ يُدْنِي الْمُؤْمِنَ، فَيَضَعُ عَلَيْهِ كَنَفَهُ - أَيْ سَتْرَهُ - وَيَسْتُرُهُ: فَيَقُولُ: أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا؟ فَيَقُولُ: نَعَمْ أَيْ رَبِّ، حَتَّى إِذَا قَرَّرَهُ بِذُنُوبِهِ، وَرَأَى فِي نَفْسِهِ أَنَّهُ هَلَكَ قَالَ: سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا وَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ، فَيُعْطَى كِتَابَ حَسَنَاتِهِ، وَأَمَّا الْكُفَّارُ وَالْمُنَافِقُونَ فَيُنَادَى بِهِمْ عَلَى رُؤُوسِ الْخَلَائِقِ: هَؤُلَاءِ الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى رَبِّهِمْ، أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ»

«الله تعالى به مؤمن نږدې کړي نو خپله پرده به پرې واچوي - يعنې پټ به يې کړي - او وبه وايي: آيا هغه - فلانی - ګناه دې ياده شي؟ آيا هغه - فلانی - ګناه دې ياده شي؟ نو وبه وايي: هو ای ربه! تر دې چې په ګناهونو يې ترې اقرار واخلي، او دی به د ځان په اړه فکر وکړي چې هلاک شو، - ورته به - ووايي: په دنيا کې مې درباندې پرده اچولې وه، او زه يې نن ورځ - هم - درته بخښم، نو د نيکيو عملنامه به ورکړی شي، او په کافرانو او منافقانو به د خلکو په حضور کې اواز وکړی شي چې : دا هغه خلک دي چې په خپل رب يې دروغ ويلي وو، نو په ظالمانو دې د الله لعنت وي»[1] بخاري او مسلم روايت کړی دی.

---

[1] بخاري په كتاب المظالم، باب قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: ﴿أَلَا لَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ﴾، شمېره (2309)، او مسلم په كتاب التوبة، باب قبول توبة القاتل، وإن كثر قتله، شمېره (2768) کې نقل کړي.

او د نبي صلى الله عليه وسلم څخه په صحيح سند سره روايت دی:

«أَنَّ مَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَعَمِلَهَا؛ كَتَبَهَا اللَّهُ عِنْدَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِ مِئَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ، وَأَنَّ مَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَعَمِلَهَا؛ كَتَبَهَا اللَّهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً».

«څوک چې د ښه کار اراده وکړي او بيا پرې عمل وکړي؛ الله -جل جلاله- يې له هغه سره لس نېکۍ وليکي، تر اووه سوه چنده، او څو چنده زياتې، او څوک چې د بدۍ اراده وکړي او بيا يې هغه وکړي؛ الله تعالى يې يوه بدي ليکي»[1].

او مسلمانانو په اعمالو د حساب او بدلې په ثبوت اجماع کړې ده، او دا د حکمت تقاضا ده، په حقيقت کې الله تعالى کتابونه نازل کړي، پيغمبران يې راليږلي، او بندګانو ته يې امر کړی چې هغه څه چې دوی پرې راتګ کړی ومني، او په هغه څه عمل وکړي چې عمل کول پرې واجب دی، او له مخالفانو سره يې جنګ کول واجب ګرځولي د هغوی وينه، د هغوی اولادونه، د هغوی ښځې او د هغوی مالونه يې حلال ګرځولي دي، نو که چيرته حساب او جزا نه وي، دا به يو عبث کار و، چې حکيم رب ورڅخه پاک دی(د عبث څخه)، او دې ته الله تعالى پدې وينا سره اشاره کړې ده:

﴿فَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرۡسِلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلۡمُرۡسَلِينَ 6 فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيۡهِم بِعِلۡمٖۖ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ 7﴾

---

[1] مسلم: كتاب الإيمان، باب إذا هم العبد بحسنة كتبت وإذا هم بسيئة لم تكتب، شمېره (131) کې نقل کړی.

﴿فَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرۡسِلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَنَسۡـَٔلَنَّ ٱلۡمُرۡسَلِينَ 6 فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيۡهِم بِعِلۡمٖۖ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ 7﴾ (نو خامخا وبه وپوښتو (په قيامت کې) مونږ هغه خلک چې ليږلی شوي وو هغوی ته (پيغمبران) او خامخا به له پيغمبرانو هم پوښتو. نو خامخا به په علم سره ورته بيان وکړو او مونږ غايب نه وو). (د الأعراف سورت: ۶- ۷ ايتونه)

دريم: په جنت او دوزخ ايمان، او دا چې د مخلوقاتو د پاره ابدي استوګن ځای دی.

جنت د نعمتونو هغه کور دی چې الله - تعالی - د پرهيزګارانو لپاره چمتو کړی، هغه کسان چې په هغه څه يې ايمان راوړی چې الله پرې ايمان راوړل فرض کړي دي، او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي، د الله لپاره اخلاص کوونکي، د هغه د رسول پيروي کوونکي دي، پدې - جنت - کې د نعمتونو بېلا بېل ډولونه دي

«مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ»، «هغه څه چې نه سترګو ليدلي، نه غوږونو اوريدلي، او نه د انسان په زړه کې د هغې تصور شوی دی»[1]، الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ 7 جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ 8﴾

---

[1] بخاري روايت کړی دی: کتاب التفسير، باب د الله تعالی قول: ﴿فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ﴾، رقم (۴۵۰۱)، او مسلم: کتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها، رقم (۲۸۲۴).

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ 7 جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ 8﴾ (بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی او ښه کارونه يې کړي دي همدوی تر ټولو ښه خلک دي. د دوی بدله د دوی د رب په نزد د تل پاتې جنتونه دي چې لاندې به يې ويالې بهيږي، په هغو کې به تل تر تله اوسيږي. الله له دوی څخه راضي دی او دوی له الله څخه راضي دي. دا د هغه چا لپاره دی چې د خپل رب څخه ويريږي). [البينة سورت: 7-8 ايتونه] او الله تعالی فرمايلي:

﴿فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ 17﴾

﴿فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ 17﴾ (نو چا ته نه ده معلومه چې هغوی ته د سترګو يخېدو کوم شيان پټ ساتل شوي، د هغو کړنو د بدلې په توګه چې دوی به کول). [السجدة سورت: 17 آيت].

او اور چې دی: نو هغه د عذاب کور دی، هغه چې الله کافرانو ظالمانو ته تيار کړی، هغوی چې په الله يې کفر کړی و او د هغه د رسولانو نافرماني يې کړې وه، په هغې کې داسې ډول ډول عذابونه او شکنجې دي چې د انسان خيال ته هم نه راځي، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ 131﴾

﴿وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ 131﴾ (له هغه اور نه ځان وژغورئ چې د کافرانو لپاره تيار کړای شوی دی). [آل عمران سورت: ايت 131] او الله تعالى فرمايي:

﴿وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا 29﴾

﴿وَقُلِ ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكُمۡۖ فَمَن شَآءَ فَلۡيُؤۡمِن وَمَن شَآءَ فَلۡيَكۡفُرۡۚ إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا 29﴾ (او ووايه دا حق دی ستاسو د رب له خوا، نو څوک چې غواړي ودې مني او څوک چې غواړي نه دې مني، يقيناً موږ ظالمانو ته داسې اور چمتو کړی چې پردې يې له هغوی نه راچاپېر دي او که (له تندې) فرياد کوي نو په داسې اوبو به يې پالنه وشي لکه د تېلو خټې چې مخونه وريتوي، (دا) ډېر بد څښاك او ناوړه استوګنځی دی). [الکهف سورت: ايت 29] او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا 64 خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا 65 يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا ٱلرَّسُولَا۠ 66﴾

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا 64 خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا 65 يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا ٱلرَّسُولَا۠ 66﴾ (بېشکه الله کافران رټلي او جهنم يې ورته چمتو کړی دی، په هغې کې به تل تر تله وي، نه به دوی ته کوم دوست وي او نه مددګار. په هغه ورځ

چې د دوی مخونه په اور کې اړول کېږي، وايي به کاشکې مونږ د الله او د رسول اطاعت کړی وای). [سورت احزاب: 64-66 ايتونه].

او د آخرت په ورځ ايمان لوی ثمرې لري، له جملې څخه يې:

لومړی: پیروی کولو ته لیوالتیا، او پرې ټینګار، د هغې ورځې د ثواب په تمه.

دويمه: د نافرمانۍ له عمل او پرې له خوښۍ څخه ويره، د هغه ورځې د عذاب له وېرې.

دريمه: مسلمان ته د هغه څه په اړه تسليت ورکول چې له دنيا څخه يې له لاسه ورکوي، د هغه نعمتونو په بدل کې چې په اخرت کې يې د ثواب تمه لري.

کافرانو له مرګ نه وروسته له بيا راژوندي کيدلو څخه انکار کړی، پدې ګمان چې دا کار ناشونی دی.

حال دا چې دا ګمان باطل دی، په بطلان يې شريعت، حس او عقل دلالت کوي.

او له شريعت څخه: الله تعالى فرمايلي دي:

﴿زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن يُبۡعَثُواْۚ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبۡعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلۡتُمۡۚ وَذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ 7﴾

﴿زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن يُبۡعَثُواْۚ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبۡعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلۡتُمۡۚ وَذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ 7﴾ (کافرانو دا خيال (او دعوا) کړې چې بيا به هغوی را ژوندي نه شي، ورته ووايه: ولې نه! زما په رب قسم چې تاسي به را ژوندي کيږئ او څه

مو چې کړي پر هغو به خبرېږئ او دا پر الله ډېره اسانه ده).
[التغابن سورت:7 ایت]. او ټولو اسماني کتابونو پرېې اتفاق کړی دی.

او له حس څخه يې دليل دا دی چې الله تعالی ځينو بنده ګانو ته پدې دنيا کې د مړو ژوندي کول وروښودل. د البقرې په سورت کې د دې خبرې پنځه مثالونه بيان شوي دي، او هغه دا دي:

لومړی بېلګه: د موسی قوم چې کله يې هغه ته وويل:

﴿...لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ ...﴾

﴿...لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ ...﴾ (...مونږ به ستا پر خبره هېڅکله باور ونه کړو (تر څو) چې الله تعالی ښکاره ونه وينو...) [البقرة سورت: 55 ايت] نو الله تعالیٰ هغوی مړه کړل، بيا يې راژوندي کړل، او پدې اړه الله تعالی بني اسرائيلو ته په خطاب کې وايي:

﴿وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ فَأَخَذَتۡكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ 55 ثُمَّ بَعَثۡنَٰكُم مِّنۢ بَعۡدِ مَوۡتِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ 56﴾

﴿وَإِذۡ قُلۡتُمۡ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤۡمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهۡرَةٗ فَأَخَذَتۡكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمۡ تَنظُرُونَ 55 ثُمَّ بَعَثۡنَٰكُم مِّنۢ بَعۡدِ مَوۡتِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ 56﴾ (او (ياد کړئ) هغه وخت چې تاسې وويل، ای موسی عليه السلام! مونږ به ستا پر خبره هېڅکله باور ونه کړو (تر څو) چې ښکاره الله ونه وينو، پس تاسې تندر ونيولئ په داسې حال کې چې تاسې (ورته) کتل. بيا مونږ تاسې له

مرګ نه وروسته راژوندي کړئ، د دې لپاره چې تاسې شکر وباسئ). (البقره سورت: ۵۵- ۵۶ ایتونه).

دویمه بیلګه: د هغه وژل شوي تن په قیصه کې چې بني اسرائیلو پکې اختلاف وکړ، نو الله تعالی امر وکړ چې غوا حلاله کړي، او ځینې برخې دې په ځینو نورو ووهي، نو هغه به ورته د خپل قاتل په اړه خبر ورکړي، تر څو د هغه چا په اړه خبر ورکړي چې دی یې وژلی دی، او پدې اړه الله تعالی فرمایي:

﴿وَإِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسٗا فَٱدَّٰرَٰٔتُمۡ فِيهَاۖ وَٱللَّهُ مُخۡرِجٞ مَّا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ 72 فَقُلۡنَا ٱضۡرِبُوهُ بِبَعۡضِهَاۚ كَذَٰلِكَ يُحۡيِ ٱللَّهُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ 73﴾

﴿وَإِذۡ قَتَلۡتُمۡ نَفۡسٗا فَٱدَّٰرَٰٔتُمۡ فِيهَاۖ وَٱللَّهُ مُخۡرِجٞ مَّا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ 72 فَقُلۡنَا ٱضۡرِبُوهُ بِبَعۡضِهَاۚ كَذَٰلِكَ يُحۡيِ ٱللَّهُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ 73﴾ ((او یاد کړئ) هغه وخت چې تاسې یو کس وژلی ؤ، نو د هغه (مقتول) په اړه په جګړه شوئ او الله ښکاره کوونکی دی د هغه څه (قتل) چې تاسو پټولو. نو موږ وویل: د هغې (مړې غوا) په ځینو برخو یې ووهئ. همداسې الله مړي ژوندي کوي او تاسو ته خپلې نښې درښایي، د دې لپاره چې تاسو د عقل نه کار واخلئ). [البقرة سورت: 72-73 ایتونه].

دریمه بیلګه: د هغه قوم په قصه کې چې له مرګ څخه د تیښتې لپاره له خپلو کورونو ووتل او په زرګونو وو؛ نو الله تعالی هغوی مړه کړل، بیا یې ژوندي کړل، او په دې اړه الله تعالی فرمایي:

﴿أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَهُمۡ أُلُوفٌ حَذَرَ ٱلۡمَوۡتِ فَقَالَ لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُواْ ثُمَّ أَحۡيَٰهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ 243﴾

﴿أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ خَرَجُواْ مِن دِيَٰرِهِمۡ وَهُمۡ أُلُوفٌ حَذَرَ ٱلۡمَوۡتِ فَقَالَ لَهُمُ ٱللَّهُ مُوتُواْ ثُمَّ أَحۡيَٰهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضۡلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشۡكُرُونَ 243﴾ (آیا نه ګورې ته حال د هغو کسانو ته چې وتلي وو له خپلو کورونو نه، حال دا چې دوی په زرګونو وو د مرګ له وېرې، پس الله تعالی دوی ته وفرمايل، چې مړه شئ (پس مړه شول) بيا يې ژوندي کړل، بېشکه الله تعالی خامخا (خاوند) د فضل او مهربانۍ دی پر خلکو باندې، خو اکثره کسان شکر نه باسي). [البقرة سورت: 243 آيت].

ځلورمه بيلګه: د هغه چا په قصه کې چې له يوه مړ کلي څخه تېر شو او دا يې ناآشنا وګڼله چې الله تعالی به يې بيا ژوندی کړي؛ نو الله جل جلاله هغه سل کاله مړ کړ، بيا يې ژوندی کړ او په دې اړه الله تعالی فرمايي:

﴿أَوۡ كَٱلَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرۡيَةٖ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحۡيِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۖ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِاْئَةَ عَامٖ ثُمَّ بَعَثَهُۥۖ قَالَ كَمۡ لَبِثۡتَۖ قَالَ لَبِثۡتُ يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖۖ قَالَ بَل لَّبِثۡتَ مِاْئَةَ عَامٖ فَٱنظُرۡ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمۡ يَتَسَنَّهۡۖ وَٱنظُرۡ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجۡعَلَكَ ءَايَةٗ لِّلنَّاسِۖ وَٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡعِظَامِ كَيۡفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكۡسُوهَا لَحۡمٗاۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعۡلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ 259﴾

﴿أَوۡ كَٱلَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرۡيَةٖ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحۡيِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۖ فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِاْئَةَ عَامٖ ثُمَّ بَعَثَهُۥۖ قَالَ كَمۡ لَبِثۡتَۖ

قَالَ لَبِثۡتُ يَوۡمًا أَوۡ بَعۡضَ يَوۡمٖۖ قَالَ بَل لَّبِثۡتَ مِاْئَةَ عَامٖ فَٱنظُرۡ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمۡ يَتَسَنَّهۡۖ وَٱنظُرۡ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجۡعَلَكَ ءَايَةٗ لِّلنَّاسِۖ وَٱنظُرۡ إِلَى ٱلۡعِظَامِ كَيۡفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكۡسُوهَا لَحۡمٗاۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعۡلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ 259﴾ (او يا لکه هغه کس چې په يو داسې کلي تېر شو چې پرېوتی و پر باموونو يې، ويې ويل: الله به دا پس له دغې مړينې څرنګه را ژوندی کوي؟ نو الله هغه په سل کاله مرګ مړ کړ او بيا يې راپور ته کړ، ورته يې وويل: څومره وځنډېدې؟ ويې ويل: يوه ورځ به ځنډېدلی يم يا د ورځې څه برخه! ويې فرمايل: نه، ته سل کاله ځنډېدلی يې خو دې خوراك او څښاك ته دې وګوره چې لا ندي خراب شوي! او خره ته دې وګوره، او دا د دې لپاره چې خلکو ته دې يوه نښانه وګرځوو، او دې هډوکو ته ګوره چې څرنګه يې خوځوو او بيا يې په غوښه پټوو! نو کله چې ورته څرګنده شوه، ويې ويل اوس پوهېږم چې بېشکه الله پر هر څه قادر دی). (د البقرة سورت: ۲۵۹ آيت)

پنځمه بېلګه: د ابراهيم الخليل په قصه کې، کله چې هغه له الله تعالی څخه وغوښتل چې هغه ته وښايي چې څنګه مړي راژوندي کوي؛ نو الله تعالی ورته امر وکړ چې څلور مرغان حلال کړي، او په شاوخوا غرونو يې برخې وويشي او بيا ورغږ کړي. نو دا برخې به يو له بل سره يوځای کېږي، او په تيزۍ سره به ابراهيم ته راځي، او په دې اړه الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِي كَيۡفَ تُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ قَالَ أَوَلَمۡ تُؤۡمِنۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطۡمَئِنَّ قَلۡبِيۖ قَالَ فَخُذۡ أَرۡبَعَةٗ مِّنَ ٱلطَّيۡرِ فَصُرۡهُنَّ

إِلَيۡكَ ثُمَّ ٱجۡعَلۡ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٖ مِّنۡهُنَّ جُزۡءٗا ثُمَّ ٱدۡعُهُنَّ يَأۡتِينَكَ سَعۡيٗاۚ وَٱعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ 260﴾

﴿وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِي كَيۡفَ تُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰۖ قَالَ أَوَلَمۡ تُؤۡمِنۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطۡمَئِنَّ قَلۡبِيۖ قَالَ فَخُذۡ أَرۡبَعَةٗ مِّنَ ٱلطَّيۡرِ فَصُرۡهُنَّ إِلَيۡكَ ثُمَّ ٱجۡعَلۡ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٖ مِّنۡهُنَّ جُزۡءٗا ثُمَّ ٱدۡعُهُنَّ يَأۡتِينَكَ سَعۡيٗاۚ وَٱعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ 260﴾ [او كله چې ابراهيم وويل: اي ربه! ته راوښيه چې مړي څرنګه را ژوندي كوې؟ ويې فرمايل: آيا باور نه كوې؟ وېلې ښنګه نه، خو د دې لپاره چې زړه مې (ښه) ډاډه شي [ايمان مې ډېرشي]. ويې فرمايل: ښه نو له دې مرغانو څلور ونيسه بيا يې ښه درنږدې كړه او ټوټه ټوټه يې كړه بيا يې په هر غره يوه يوه برخه كيږده، بيا يې را وبوله، په منډه به درته راشي، او پوه شه چې بېشكه الله حكمت والا برلاسى ذات دى]. [البقرة سورت: ايت 260].

نو دا هغه حقيقي فزيكي مثالونه دي چې د مړو راژوندي كيدل شوني دي، او موږ مخكې هم هغه څه ته اشاره كړې چې الله تعالى د عيسى زوى د مريم له نښو څخه د الله په اجازه د مړو په ژوندي كولو او له قبرونو څخه د دوى په راويستلو سره ښودلې وې.

او عقل له دوو اړخونو پدې دلالت كوي:

لومړى يې: دا چې الله د آسمانونو او ځمكې او څه چې په دوى كې دي پيدا كوونكى دى، له پيله د دوى خالق دى او له پيله پيدا كوونكى، له بېرته راګرځولو څخه نه عاجزيږي. الله تعالى فرمايلي:

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِۚ...﴾

﴿وَهُوَ ٱلَّذِي يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ أَهۡوَنُ عَلَيۡهِۚ...﴾ (او هغه ذات دی کوم چې د پېدایښت پیل کوي او بیا یې راګرځوي او دا لا ورته اسانه ده...) [الروم سورت : 27 ایت ]. او الله تعالی فرمایلي:

﴿...كَمَا بَدَأۡنَآ أَوَّلَ خَلۡقٖ نُّعِيدُهُۥۚ وَعۡدًا عَلَيۡنَآۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ﴾

﴿...كَمَا بَدَأۡنَآ أَوَّلَ خَلۡقٖ نُّعِيدُهُۥۚ وَعۡدًا عَلَيۡنَآۚ إِنَّا كُنَّا فَٰعِلِينَ﴾ (څنګه چې لومړی ځل پیدایښت مو پیل کړی و، هماغسې به یې بیا راګرځوو، دا په موږ وعده ده موږ خامخا د دې کار کوونکي یو). (الأنبیاء سورت: ۱۰۴ ایت) او په امر کولو سره یې په هغه چا د رد کولو په موخه وویل چې د هډوکو د بیا ژوندي کولو څخه انکار کوي کله چې هغه وراسته شي:

﴿قُلۡ يُحۡيِيهَا ٱلَّذِيٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلۡقٍ عَلِيمٌ 79﴾

﴿قُلۡ يُحۡيِيهَا ٱلَّذِيٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلۡقٍ عَلِيمٌ 79﴾ (ورتهووایه: هغه ذات به یې راژوندي کوي کوم چې په لومړي ځل یې پیدا کړي او هماغه په هر ډول پیدایښت ښه پوه دی). (یس سورت: ۷۹ ایت)

دویم: دا چې ځمکه مړه او وچه وي، په هغې کې شنه ونه نه وي، نو باران پرې وشي؛ په خوځښت سره شنه او راژوندۍ شي، په دې کې له هرې تازه جوړې پیدا شي، څوک چې د هغې له مړینې وروسته د هغې د بیا ژوندي کولو توان ولري، د مړو د راژوندي کولو ځواک هم لري، الله -تعالی- فرمایلي:

﴿وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلۡأَرۡضَ خَٰشِعَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡۚ إِنَّ ٱلَّذِيٓ أَحۡيَاهَا لَمُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰٓۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ 39﴾

﴿وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنَّكَ تَرَى ٱلۡأَرۡضَ خَٰشِعَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا ٱلۡمَآءَ ٱهۡتَزَّتۡ وَرَبَتۡۚ إِنَّ ٱلَّذِيٓ أَحۡيَاهَا لَمُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰٓۚ إِنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ 39﴾ (او د هغه له نښانو څخه دا دي چې ته ځمکه وينې چې وچه (شاړه) ده خو کله چې موږ ورباندې اوربښت وکړو، نو سره وخوځيږي او راوپړسيږي، په رښتيا همغه ذات دی چې دا يې راژوندی کړه هرومرو د مړو راژوندی کوونکی هم دی، بېشکه هغه په هر څه ځواکمن دی). (فصلت سورت: ٣٩ ايت) او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَنَزَّلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ مُّبَٰرَكٗا فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ جَنَّٰتٖ وَحَبَّ ٱلۡحَصِيدِ 9 وَٱلنَّخۡلَ بَاسِقَٰتٖ لَّهَا طَلۡعٞ نَّضِيدٞ 10 رِّزۡقٗا لِّلۡعِبَادِۖ وَأَحۡيَيۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ ٱلۡخُرُوجُ 11﴾

﴿وَنَزَّلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ مُّبَٰرَكٗا فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ جَنَّٰتٖ وَحَبَّ ٱلۡحَصِيدِ 9 وَٱلنَّخۡلَ بَاسِقَٰتٖ لَّهَا طَلۡعٞ نَّضِيدٞ 10 رِّزۡقٗا لِّلۡعِبَادِۖ وَأَحۡيَيۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ ٱلۡخُرُوجُ 11﴾ (او موږ له آسمانه برکتي اوبه وورولې بيا مو باغونه او ريبلو والا (غلې) دانې پرې زرغونې کړې، او هم مو پرې لوړې دنګې او د ګڼو وږو لرونکې خرماګانې زرغونې کړي دي. د بندګانو لپاره روزي ده او موږ پرې مړه شوې سيمه ژوندی کړه. همداسې به راوتل وي). [ق سورت: 9-11 آيتونه].

د آخرت په ورځې ايمان په هر هغه څه ايمان دی چې له مرګ څخه وروسته راځي لکه:

(الف) د قبر آزموينه: چې هغه د مړي له ښخولو وروسته د هغه د رب، دين او د هغه د پيغمبر په اړه پوښتنه ده. نو الله تعالى مؤمنان په ثابتې وينا سره ثابت پاتې کوي، نو فرمايي: زما رب الله دى او زما دين اسلام دى او زما پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم دى. او الله ظالمان ګمراه کوي، نو کافر به وايي: هاه، هاه، زه نه پوهيږم، او منافق يا شکمن به وايي: زه نه پوهيږم، ما د خلکو څخه يو څه اورېدل چې يو څه به يې وييل، نو ما هم وويل.

(ب) د قبر عذاب او نعمت: دا به (د قبر عذاب) د ظالمانو د پاره وي چې هغه همدا منافقان او کافران دي، الله تعالى فرمايي:

﴿...وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَكُنتُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهِۦ تَسۡتَكۡبِرُونَ﴾

﴿...وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَكُنتُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهِۦ تَسۡتَكۡبِرُونَ﴾ (...او که تا ليدلی چې کله داسې ظالمان د مرګ په سختيو کې (غوټې وهي) او ملايکې په غځولو لاسونو (ورته وايي) را و باسئ ساګانې مو! نن تاسو ته په شرموونکي عذاب بدله درکول کيږي ځکه چې تاسو به الله پورې ناحقه خبرې کولې او د هغه له آيتونو مو لويي (او سرغړونه) کوله). [الأنعام سورت: 93 آيت].

او د آل فرعون په اړه يې وفرمايل:

﴿ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ 46﴾

((يعني) اور چې هغوی به سهار او ماښام ور وړاندې کول کیږي، او په هغه ورځ چې قيامت شي (حکم به وشي) د فرعون کورنی تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ). [غافر سورت: 46 آيت].

همدارنګه په صحيح مسلم کې د زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«فَلَوْلَا أَنْ لَا تَدَافَنُوا لَدَعَوْتُ اللَّهَ أَنْ يُسْمِعَكُمْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ الَّذِي أَسْمَعُ مِنْهُ»

«که چیرته داسې نه کیدای چې بیا به تاسو خپل مړي نه ښخوئ نو له الله تعالی نه به مې غوښتنې و چې تاسو ته د قبر له عذاب څخه هغه څه درواوروي چې زه يې ترې اورم» بيا یې مخ راواړاوه، نو ويې فرمايل:

«تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ».

«د اور له عذاب څخه الله ته پناه وغواړئ». هغوی وويل: د اور له عذاب څخه په الله پناه غواړو، هغه وفرماييل:

«تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ»

«په الله (جل جلاله) د قبر له عذاب څخه پناه وغواړئ». هغوی وويل: د قبر له عذابه په الله پناه غواړو، هغه وفرمايل:

«تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنَ الْفِتَنِ، مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ»

«په الله تعالی له فتنو څخه پناه وغواړئ که هغه ښکاره وي او که پټې». هغوی وويل: په الله پناه غواړو له ښکاره او پټو فتنو څخه، هغه وفرمايل:

«تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ»
«د دجال له فتنې څخه په الله تعالی پناه وغواړئ» هغوی وویل: د دجال له فتنې څخه په الله پناه غواړو.[1]

او کوم چې د قبر نعمتونه دي: نو د ریښتینو مؤمنانو لپاره دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ 30﴾

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ 30﴾

(بېشکه هغه کسان چې وایي زموږ رب الله دی بیا پرې ټینګ هم شي، نو پر هغوی به ملایکې رانازلیږي چې مه وېرېږئ او مه خپه کیږئ او په هغه جنت خوشاله اوسئ چې ژمنه یې درسره کېدله). [فصلت سورت: ایت 30].

او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿فَلَوۡلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلۡحُلۡقُومَ 83 وَأَنتُمۡ حِينَئِذٖ تَنظُرُونَ 84 وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنكُمۡ وَلَٰكِن لَّا تُبۡصِرُونَ 85 فَلَوۡلَآ إِن كُنتُمۡ غَيۡرَ مَدِينِينَ 86 تَرۡجِعُونَهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ 87 فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ 88 فَرَوۡحٞ وَرَيۡحَانٞ وَجَنَّتُ نَعِيمٖ 89﴾

﴿فَلَوۡلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلۡحُلۡقُومَ 83 وَأَنتُمۡ حِينَئِذٖ تَنظُرُونَ 84 وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنكُمۡ وَلَٰكِن لَّا تُبۡصِرُونَ 85 فَلَوۡلَآ إِن كُنتُمۡ غَيۡرَ مَدِينِينَ 86 تَرۡجِعُونَهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ 87 فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ

---

[1] مسلم په: كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها، باب عرض مقعد الميت من الجنة أو النار عليه وإثبات عذاب القبر والتعوذ منه، کې په (2867) شمیره روایت کړی.

88 فَرَوۡحٞ وَرَيۡحَانٞ وَجَنَّتُ نَعِيمٖ 89﴾ [نو ولې هغه وخت چې (روح) مرۍ ته ورسیږي 83 او تاسو په هغه وخت کې ګورئ 84 او موږ تاسو ته تر تاسو نږدې یو خو تاسو نه وینئ 85 نو ولې نه ده که چیرې تاسې کمزوري نه یوئ 86 هغه بېرته نه راوړئ که تاسو رښتیا ویونکي یاست 87 نو که هغه له مقربینو څخه وي 88 نو ده لره راحت، او خوشبویي او د نعمت جنت 89 [الواقعة سورت: 83-89 آیتونه].

او له براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم د هغه مؤمن په اړه چې په خپل قبر کې د ملایکو ځواب ورکړي، وفرمایل:

«يُنَادِي مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: أَنْ صَدَقَ عَبْدِي، فَافْرِشُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَأَلْبِسُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ، قَالَ: فَيَأْتِيهِ مِنْ رَوْحِهَا وَطِيبِهَا، وَيُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ مَدَّ بَصَرِهِ»

«له آسمانه یو غږ کوونکی غږ وکړي: چې زما بنده ریښتیا وویل، نو له جنت څخه ورته فرش - خپور - کړئ، د جنت جامې ورواغوندئ، او جنت ته یوه دروازه ورته پرانیزئ، ویې وییل: نو د -جنت- له آرامۍ او خوشبویۍ څخه به ورته راشي، او د سترګو د لیدو په اندازه به یې قبر ورته پراخه شي» دا حدیث احمد او ابو داود په یو اوږد حدیث کې روایت کړی دی[1].

---

[1] ابو داود په کتاب السنة، باب المسألة في القبر وعذاب القبر، (4753) شمېره ، او أحمد په مسند الكوفيين، حديث البراء بن عازب، شمېره (18534) نقل کړی.

ځيني منحرف - خويه شوي - خلک ګمراه شول او د قبر له عذاب او نعمت څخه يې انکار وکړ، پدې ګمان چې دا ممکن نه دی، ځکه چې دا له حقيقت سره په ټکر کې دی، ويې ويل: که چيرته د مړي قبر راوسپړل شي نو همغسې به وموندل شي لکه څرنګه چې وړاندې و، او همدا رنګه قبر به په پراخيدو او يا تنګيدلو سره بدلون نه وي موندلی.

او دا ګومان په شريعت، حس او عقل سره باطل دی:

د شريعت له نظره: نو د قبر د عذاب او نعمت په اړه وړاندې دليلونه تېر شول.

او په صحيح البخاري کې د ابن عباس - رضي الله عنهما - له حديث څخه روايت دی چې فرمايلي يې دي: « پيغمبر- صلى الله عليه وسلم د مديني په ځينو کوڅو کې ووت، نو د دوو انسانانو غږ يې واوريده چې په قبرونو کې يې عذاب ورکول کېده » او حديث يې ذکر کړ، په هغه کې دي چې:

«أَنَّ أَحَدَهُمَا كَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ»

«چې له هغوی دواړو څخه يو يې له ادرار (تشو متيازو) څخه ځان نه ساته» او په يو روايت کې دي:

«مِنْ بَوْلِهِ»

«له خپلو متيازو څخه (يې ځان نه ساته)»

«وَأَنَّ الْآخَرَ كَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ»،

«او دا چې بل به يې چغلګري کوله» او د مسلم په روايت کې دي:

«لَا يَسْتَنْزِهُ مِنَ الْبَوْلِ».

«له بولو څخه يې ځان نه ساته».[1]

او له حس څخه دليل: ويده انسان په خوب کې ګوري چې هغه په يو پراخه او زړه راښکونکي ځای کې وي، له نعمتونو څخه ډکې خوندونه اخلي، او يا دا چې په يو تنګ وحشتناک ځای کې وي، چې ورڅخه ځوريږي، او کله د هغه څه له امله راويښ شي چې ليدلي يې وي. سره لدې هغه په خپله کوټه کې په خپله بستره باندې همغاسې پروت وي لکه څرنګه چې و، او خوب د مرګ ورور دی، لدې امله الله تعالی (مرګ) نومولی دی، الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي مَنَامِهَاۖ فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّى...﴾

﴿ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي مَنَامِهَاۖ فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّى...﴾ ((همغه) الله د مرګ پر وخت کې ساګانې اخلي او د کومو چې مرګ نه وي راغلی په خوب کې (يې اخلي) بيا چې په هر چا د مرګ پريکړه شوې وي هغه ايساروي او نورې تر يوې ټاکلې نېټې بېرته راليږي...) (د الزمر سورت: ۴۲ ايت)

او له عقل څخه دليل دا دی چې: په خوب کې خوب ليدونکی رېښتينی خوب ويني چې د حقيقت سره مطابقت لري. او ښايي هغه نبي صلی الله عليه وسلم د هغه په صفتونو سره وويني، او چا چې هغه د هغه د صفتونو مطابق وليد، نو داسې ده لکه

---

[1] بخاري په کتاب الوضوء، باب ما جاء في غسل البول، (215) شمېره کې روايت کړی.

چې هغه يې واقعا وليد، سره له دې، ويده انسان په خپله کوټه کې په بستره باندې له هغه څه نه ليرې وي چې په خوب کې يې ليدلي وي. که دا کار د دنيا په شرايطو کې ممکن وي، نو آيا د آخرت په شرايطو کې ممکن ندی؟!

او د دوی پدې ګمان باور چې که چيرته د مړي قبر راوسپړل شي؛ نو په هماغه حال به وموندل شي په کوم حال چې و، او قبر به هم هيڅ بدلون نه وي موندلی؛ نه په پراخيدلو او نه په تنګيدلو سره؛ نو د دې ګومان جواب له څو اړخونو نه دی:

لومړی: د هغه څه مخالفت روا نه دی چې شريعت پرې راتګ کړی وي، لکه داسې بې بنسټه شبهې چې که چيرته مخالفت کوونکی د هغه څه په اړه غور وکړي چې شريعت پرې راتګ کړی دی نو خامخا به د دې شبهو په بطلان پوه شي، او داسې ويل شوي دي:

ډير د خلکو سمه وينا عيبجنه ګڼي

او د دې افت وجه نا سمه پوهه ده.

دويم: د برزخ حالات له غيبي چارو څخه دي؛ هغه چې حس يې درک کولای نه شي، که چيرته په حس درک کيدلای نو بيا به په غيبو ايمان هيڅ ګټه نه درلودله، او په غيبو ايمان لرونکي او ورڅخه انکار کوونکی به سره بيا د هغې په رښتيا ګڼلو کې برابر و.

دريم: عذاب، نعمتونه، د قبر پراختيا او تنګي؛ يوازې مړی درک کولای شي نه بل څوک، او دا لکه څرنګه چې يو ويده انسان په خوب کې ګوري چې هغه په يو تنګ وحشتناک ځای

کې وي، یا په پراخه او زړه راښکونکي ځای کې وي، او هغه ځوک چې یې چاپیره وي هغه یې نه ګوري او نه پرې پوهیږي. او یقینا پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - ته به وحې کېدله پداسې حال کې چې هغه به د صحابه و تر منځه و، وحې به یې اوریدله، او صحابه و به نه اوریدله، او کله به ورته ملایک د انسان په بڼه راغی او خبرې به یې ورسره کولې، او صحابه و به ملایک نه لیده، او نه به یې غږ ورته اوریده.

څلورم: د مخلوقاتو ادراک د هغه څه پورې محدود دی چې الله تعالی یې د درک کولو توان ورکړی وي، او دا شوني نده چې ټول موجودات درک کړي، ځکه اووه آسمانونه، ځمکه، او څه چې پکې دي، او ټول شیان په حقیقي توګه د الله - تعالی - تسبیح وایي، الله یې له خپلو مخلوقاتو څخه ور اوروي هغه چاته چې وغواړي کله کله، سره لدې هغه زمونږ نه پناه دی، او پدې اړه -الله- تعالی فرمایي:

﴿تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ...﴾

﴿تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَيۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۚ...﴾ (اوه واړه اسمانونه، زمکه او څه چې په هغو کې دي، ټول د هغه پاکي وایي او داسې هېڅ شی نشته چې له ستاینې سره د هغه پاکي نه وایي خو تاسې یې په تسبیح نه پوهېږئ...) [الإسراء سورت: ایت 44] همدا رنګه شیطانان او پیریان په ځمکه کې په تګ راتګ سره ځغلي، او پیریان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حاضر شول او د هغه قراءت ته یې غوږ نیولی و، او

چپ وو، او خپل قوم ته بیرته ویروونکي وروګرځېدل، لدې سره هغوی زمونږ نه پټ دي، پدې اړه الله تعالی فرمایي:
﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ 27﴾
﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوۡلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ 27﴾
(ای د آدم اولادې! شیطان مو چېرې داسې فتنه کې وانه چوي لکه چې ستاسو مور او پلار یې له جنته را وایستل په داسې حال چې جامې یې ترې اېستلې تر څو عورتونه یې ورښکاره کړي، بې شکه هغه او لښکر یې تاسو له هغې خواویني چې تاسو یې نه شئ لیدلای، یقیناً دا شیطانان مو د هغو خلکو لپاره ملګري ګرځولي چې ایمان نه راوړي). [الأعراف سورت:27 آیت] او کله چې مخلوقات ټول شته شیان نه شي درک کولای؛ نو ورته روا نده چې له ثابت شوو غیبې چارو څخه انکار وکړي، حال دا چې درک کړي یې ندي.

*

## په تقدیر ایمان

قدَر (د دال په فتحې سره): د الله تعالی لخوا د مخلوقاتو اندازه کول، د هغه د مخکینۍ پوهې سره سم او څرنګه چې د هغه حکمت یې تقاضا کوي.

په تقدیر ایمان څلورو شیانو ته شاملیږي:

لومړی: په دې عقيده لرل چې الله تعالی په هر څه باندې، په اجمالي او تفصيلي ډول پوهه دی، هميش او د تل لپاره پوهيږي، برابره ده که هغه د الله تعالی د افعالو يا د هغه د بندګانو د کړنو سره تړاو ولري.

دويم: پدې ايمان چې الله تعالی دا په لوح محفوظ کې ليکلي دي، او د دې دوو چارو په اړه الله تعالی فرمايلي دي:

﴿أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ 70﴾

﴿أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ 70﴾ (آيا ته نه پوهيږې چې الله په هغه څه پوهيږي چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، دا خامخا په يو کتاب کې دي، دا خو په الله ډېر آسانه دي). [الحج سورت: 70 آيت].

او په صحيح مسلم کې له عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی وايې چې: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې:

«كَتَبَ اللَّهُ مَقَادِيرَ الْخَلَائِقِ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ».

«الله د اسمانونو او ځمکې له پيدا کولو څخه پنځوس زره کاله مخکې د مخلوقاتو تقديرونه ليکلي دي»[1].

---

1 مسلم په: کتاب القدر، باب حجاج آدم وموسی عليهما السلام، کې په: (۲۶۵۳) شمېره روايت کړی دی.

دريم: دا عقيده لرل چې ټول موجودات د الله تعالی له خوښې پرته شتون نه شي درلودلای، برابره ده که د هغه د کړنو سره تړاو ولري یا د مخلوقاتو د کړنو سره تړاو ولري، الله تعالی د هغه څه په اړه چې د هغه د فعل پورې تړاو لري فرمایلي دي:

﴿وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُۗ...﴾

﴿وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُۗ...﴾(او ستا رب چې څه غواړي هغه پیدا کوي او غوره کوي یې...) [القصص سورت: ۶۸ آیت] او فرمايي:

﴿...وَيَفۡعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ﴾

﴿...وَيَفۡعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ﴾ (او الله چې څه وغواړي هماغه کوي). [إبراهيم سورت: 27 ايت] او فرمايي:

﴿هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ...﴾

﴿هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ...﴾ (دا خو هماغه ذات دی چې د مېندو په ګېډو کې ستاسې صورتونه (شکلونه) چې څنګه یې خوښه وي همغسې یې جوړوي...) [آل عمران سورت: ايت 6]. او الله تعالی د مخلوقاتو د چارو په تړاو فرمايلي دي:

﴿...وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمۡ عَلَيۡكُمۡ فَلَقَٰتَلُوكُمۡۚ...﴾

﴿...وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَسَلَّطَهُمۡ عَلَيۡكُمۡ فَلَقَٰتَلُوكُمۡۚ...﴾ (...او که الله غوښتي وای نو حتماً به یې درباندې مسلط کړي او بیا به درسره جنګېدل...) [النساء سورت: 90 ايت] او فرمايي:

﴿...وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ﴾

﴿...وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ﴾ (...او كه ستا رب غوښتي وای نو داسې به يې نه وو كړي، نو هماغسې يې په خپلو دروغ تړلو كې پرېږده). [الأنعام سورت: 112 آيت].

څلورم: دا عقيده درلودل چې ټول مخلوقات د الله تعالى له خوا د هغوى د ذات، صفاتو او حركاتو سره پيدا شوي دي، الله تعالى فرمايي:

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ 62﴾

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ 62﴾

(الله د هر شي پيدا كوونكى او همغه د هر څه ساتونكى دى). [الزمر سورت: 62 آيت] او الله پاک فرمايلي:

﴿...وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا﴾

﴿...وَخَلَقَ كُلَّ شَيۡءٖ فَقَدَّرَهُۥ تَقۡدِيرٗا﴾

(...او هر څه هماغه پيدا كړي او برخليك يې ورته ټاكلى دى). (الفرقان سورت: ٢ ايت) او د خپل نبي ِابراهيم عليه السلام په اړه يې فرمايلي دي چې هغه خپل قوم ته وويل:

﴿وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ 96﴾

﴿وَٱللَّهُ خَلَقَكُمۡ وَمَا تَعۡمَلُونَ 96﴾

(حال دا چې تاسو هم الله پيدا كړي ياست او څه چې كوئ هغه هم). [الصافات سورت: 96 آيت].

او په تقدير ايمان -لكه څرنګه يې چې مونږ يادونه وكړه- د دې مخالفت نه كوي چې بنده دې په خپلو اختياري كړنو كې اختيار او پرې توان ولري، ځكه شريعت او واقعيت دواړه ورته پدې دلالت كوي.

له شریعت څخه: الله تعالی د اختیار (مشیئت) په اړه فرمایلي دي:

﴿...فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا﴾

﴿...فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا﴾(...نو چې د چا خوښه وي د خپل پالونکي لور ته د ورګرځېدو لار دې ونیسي). [النبأ سورت: 39 آیت] او فرمايي:

﴿...فَأۡتُواْ حَرۡثَكُمۡ أَنَّىٰ شِئۡتُمۡۖ...﴾

﴿...فَأۡتُواْ حَرۡثَكُمۡ أَنَّىٰ شِئۡتُمۡۖ...﴾

(...خپلو کروندو ته مو چې په کوم ډول (طریقه) خوښه وي، راشئ...). [البقرة سورت: 223 ایت] او د قدرت په اړه فرمايي:

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ...﴾

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ...﴾ (نو څومره چې کولای شئ له الله ووېرېږئ، (خبره) واورئ او تابعداري وکړئ...) [التغابن سورت: ایت 16] او فرمايي:

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَعَلَيۡهَا مَا ٱكۡتَسَبَتۡۗ...﴾

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَعَلَيۡهَا مَا ٱكۡتَسَبَتۡۗ...﴾ (الله هېڅ ساکښ ته د هغه له وسې پورته مسؤولیت نه متوجه کوي چا چې څه ښه کړیدي، د هغه ګټه د هماغه ده او چا چې څه بدي کړېده، د هغه ګناه پر هماغه ده...). [البقرة سورت: 286 ایت].

او له واقعیت(اصل حقیقت) څخه دلیل دا دی چې: هر انسان پدې پوهیږي چې هغه لره اختیار او څواک شته، چې په دواړو سره کړنې تر سره کوي، او په دواړو سره یې پریږدي، او توپیر کولای شي د هغه څه تر منځه چې دی یې په خپله اراده تر سره کوي لکه مزل کول، او د هغه څه تر منځه چې د ده له ارادې پرته پېښیږي لکه: لړزیدل، مګر د بنده اراده او وړتیا د الله تعالی په ارادې او وړتیا سره ترسره کیږي. دلیل یې د الله تعالی دا وینا ده:

﴿لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ 28 وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ 29﴾

﴿لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَسۡتَقِيمَ 28 وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ 29﴾ (له تاسې څخه د هغه چا لپاره چې غواړي په لاره سم شي. او تاسو نه غواړئ مګر هغه څه چې الله، د عالمونو رب یې وغواړي). [سورت التکویر: ۲۸-۲۹ ایتونه]

ځکه چې ټول کاینات د الله تعالی ملکیت دی؛ نو د هغه له پوهې او ارادې پرته هیڅ شی د هغه په ملکیت کې نه شي تر سره کېدلای.

او په تقدیر ایمان -لکه څرنګه یې چې مونږ یادونه وکړه- بنده ته دا دلیل نه جوړوي چې له واجباتو څخه دې څه پریږدي، او یا ګناهونه تر سره کړي، او پدې سره استدلال یې له څو اړخونو نه باطل دی:

لومړی: د الله تعالی قول دی:

﴿سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشۡرَكۡنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ حَتَّىٰ ذَاقُواْ بَأۡسَنَاۗ

﴿قُلۡ هَلۡ عِندَكُم مِّنۡ عِلۡمٖ فَتُخۡرِجُوهُ لَنَآۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَخۡرُصُونَ 148﴾

﴿سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْ لَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشۡرَكۡنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمۡنَا مِن شَيۡءٖۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ حَتَّىٰ ذَاقُواْ بَأۡسَنَاۗ قُلۡ هَلۡ عِندَكُم مِّنۡ عِلۡمٖ فَتُخۡرِجُوهُ لَنَآۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا تَخۡرُصُونَ 148﴾ (هغو کسانو چې شرك کړی وايي به که الله غوښتي وای نه به موږ شرك کړی و، نه مو پلرونو او نه به مو کوم شی حرام کړی و، له دوی مخکی هم چې کوم خلك وو همدغسې دروغ یې تړلي وو تر دې چې زموږ عذاب یې وڅکلو، ورته ووایه: آیا تاسو سره کوم علمي سند شته چې موږ ته یې راوباسئ؟ تاسي له ګومانه پرته بل څه پسې نه ځئ او (په الله پوری) له دروغ تړلو پرته بل څه نه کوئ). [الأنعام سورت: 148 آیت] او که چیرته هغوی سره په تقدیر باندې دلیل و نو هیڅکله به الله تعالی خپل عذاب نه وی ورڅکلی.

دویم د الله تعالی قول دی:

﴿رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا 165﴾

﴿رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمٗا 165﴾(دا ټول) رسولان زېری ورکوونکي او وېروونکي (لیږل شوي وو) تر څو له رسولانو وروسته خلکو ته د الله پر وړاندې کوم دلیل پاتې نه شي، او الله د حکمت والا برلاسی دی). [النساء سورت: ۱۶۵ ایت] او که چیرته تقدیر د مخالفانو لپاره دلیل جوړیدلای نو د پیغمبرانو

په لیرلو سره به یې دلیل نه و نفي شوی، ځکه د هغوی له لیرلو وروسته یې مخالفت د الله تعالی په تقدیر باندې شوی دی.

دریم: د بخاري او مسلم روایت دی -او لفظ یې د بخاري دی- له علي بن ابی طالب رضي الله عنه څخه، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا قَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ أَوْ مِنَ الْجَنَّةِ»

«په تاسو کې هیڅ یو نشته مګر دا چې د هغه ځای له اور څخه یا له جنت څخه لیکل شوی دی» نو د قوم (صحابو) څخه یو سړي وویل: ای د الله رسوله! آیا مونږ توکل ونه کړو؟ هغه وفرمایل:

«لَا، اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ»

«نه، عمل کوئ، ځکه هر څوک (خپل عمل ته) اسان کړای شوی دی». بیا یې دا آیت ولوست:

﴿فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ 5﴾

﴿فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ 5﴾ (نو هغه څوک چې ور یې کړ حق او تقوا یې وکړه). [اللیل سورت: 5 آیت]. او د مسلم په یو بل لفظ کې راځي:

«فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ»

«فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ»[1]

«نو هر چا ته هغه څه اسانه کړل شوي دي چې د هغه لپاره پیدا کړل شوی دی». نو پیغمبر - صلی الله علیه وسلم - په

---

1 بخاري په کتاب القدر، باب وكان أمر الله قدرا مقدورا کې په (۶۶۰۵) شمېره، او مسلم په کتاب القدر، باب كيفية خلق الآدمي في بطن أمه وكتابة رزقه وأجله وعمله وشقاوته وسعادته کې په (۲۶۴۷) شمېره روایت کړی دی.

عمل کولو امر وکړ، او له - یوازې په امید له تکیه کولو یې منع وفرمایله.

څلورم: الله تعالی بنده ته امر او نهې کړې، او مکلف کړی یې ندی مګر په هغه څه چې کولی یې شي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ...﴾

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ...﴾ (نو څومره چې کولای شئ له الله ووېرېږئ، (خبره) واورئ او تابعداري وکړئ...) [التغابن سورت: ایت 16] او فرمايي:

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ...﴾

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ...﴾(الله هېڅ ساکښ ته د هغه له وسې پورته مسؤولیت نه متوجه کوي...) [البقرة سورت: 286 ایت] که بنده په عمل کولو مجبور وی، نو په هغه څه به مکلف ګرځول شوی و چې ځان به یې ترې نه شو خلاصولای، او دا خبره غلطه ده، لدې امله کله چې ترې کومه ګناه په ناپوهۍ، هیره، او یا اکراه سره تر سره شي، نو ګناه پرې نشته، ځکه چې هغه معذور دی.

پنځم: الهي تقدیر پټ راز دی، تر هغه پرې څوک نه پوهیږي تر څو چې مقدور شی واقع شوی نه وي، او د بنده اراده پر هغه څه چې کول یې غواړي مخکې وي؛ نو د یو عمل لپاره د ده اراده، د الله په تقدیر د ده پر پوهېدو بنا نده، نو دا مهال په تقدیر استدلال کول ناسم دي،ځکه ناپوهي د سړي لپاره دلیل نه شي جوړیدلی.

شپږم: موږ ګورو چې انسان د دنيا په چارو کې هغه څه ته لېواله دی چې ورته مناسب وي، تر څو يې تر لاسه کړي، او هغه څه ته ترې نه اوړي چې مناسب ورته نه وي، بيا ورڅخه له اوړيدو لپاره په تقدير استدلال کوي؟ نو د دين په چارو کې بيا ولې د هغه څه نه اوړي چې د ده په کې فايده ده هغه څه ته چې ضرر يې پکې دی، او بيا په تقدير دليل نيسي! نو آيا دا دواړه چارې يو ځېر ندي؟

دا مثال درواخله چې دا روښانه کوي:

که چېرته د انسان مخې ته دوه لارې وي: يوه يې داسې يو هيواد ته پای مومي چې ټوله ګډوډي وي؛ وژل، لوټل، د عزت سپکاوی، ويره، لوږه. او دويمه يې داسې يو هيواد ته پای مومي چې ټول: نظم، امنيت، هوسا ژوند، خلکو او ابرو، عزت او مالونو ته درناوی وي، نو کومه لاره به نيسي؟

دا به خامخا دويمه لار نيسي، کومه يې چې د نظم او امنيت هېواد ته رسوي، او هيڅ عاقل سړی به هيڅکله د ګډوډۍ او ويرې هيواد ته تللې لار ونه نيسي، او بيا به په تقدير استدلال کوي. نو د آخرت په چارو کې ولې له جنت پرته اور ته تللې لار نيسي او استدلال په تقدير کوي؟

بل مثال: ناروغ ګورو چې په درمل څښلو ورته امر کيږي؛ نو څښي يې، او زړه يې نه غواړي، او له هغه خوړو نه منع کيږي چې ضرر ورته رسوي؛ نو پريږدي يې، حال دا چې زړه يې ورته کيږي، دا ټول د روغتيا او سلامتيا د لاسته راوړلو په خاطر، او شوني نده چې د درملو له څښلو دې لاس ونيسي، او يا هغه خواړه وخوري چې ضرر ورته رسوي، او

په تقدير استدلال وکړي. نو ولې انسان هغه څه پرېږدي چې الله او رسول ورته پرې امر کړی وي، او يا هغه څه کوي چې الله او رسول ترې منع کړی وي او بيا په تقدير استدلال کوي.

اووم: په تقدير هغه استدلال کوونکی چې واجبات يې پريښي وي، او يا يې ګناه کړې وي، که چېرته پرې يو څوک تيری وکړي او مال يې واخلي، او يا يې ابرو ته سپکاوی وکړي، بيا تيری کوونکی په تقدير استدلال وکړي، او ووايي: ما مه ملامتوه، ځکه زما تيری د الله د تقدير له مخې و، نو دليل به يې ونه منل شي. نو څنګه په تقدير استدلال نه مني کله چې پرې بل څوک تيری وکړي، او د خپل ځان لپاره پرې استدلال کوي کله چې د الله تعالی په حق تيری وکړي؟!

او ويل کيږي چې أمير المؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته يو غل وروستل شو چې د لاس پرې کولو مستحق و؛ نو د هغه د لاس په پرې کولو يې امر وکړ نو هغه وويل: صبر وکړه ای امير المؤمنينه! ما د الله په تقدير غلا کړې ده؛ عمر ورته وويل: او مونږ دې هم لاس د الله په تقدير پرې کوو.

په تقدير ايمان لويې ثمرې لري چې له جملې څخه يې ځينې دا دي:

لومړی: د اسبابو په ترسره کولو سره پر الله تعالی توکل کول، تر څو پخپله پر علت تکيه ونه کړي. ځکه هر څه د الله تعالی په تقدير سره کيږي.

دويمه: سړی بايد ځانته مغرور نه شي کله چې موخه لاسته راوړي؛ ځکه لاسته راوړل يې د الله تعالی لورينه ده چې د

خير او کاميابۍ اسباب يې ورته مقدر کړل، او پر ځان مغرور کېدل ورڅخه په نعمت شکر ويستل هيروي.

دريمه: ډاډ او روحي سکون، په هغه څه چې د الله تعالی د تقدير له مخې پرې تيريږي؛ د يو محبوب شي په فوت کېدلو او يا د يو مصيبت په رسيدلو نه ګډوډيږي، ځکه دا د الله تعالی په تقدير کيږي، هغه ذات چې د آسمانونو او ځمکې واک له هغه سره دی، او دا خامخا کېدونکی دی، او پدې اړه الله تعالی فرمايلي:

﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ 22 لِّكَيۡلَا تَأۡسَوۡاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا تَفۡرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٍ 23﴾

﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ 22 لِّكَيۡلَا تَأۡسَوۡاْ عَلَىٰ مَا فَاتَكُمۡ وَلَا تَفۡرَحُواْ بِمَآ ءَاتَىٰكُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٍ 23﴾ (هيڅ يو داسې مصيبت به (چاته) نه وي رسېدلی نه په ځمکه کې او نه ستاسي په ځانونو کې چې هغه په کتاب (لوح محفوظ) کې نه وي، له هغه مخکې چې مونږ يې پيدا کړو، دا کار په رېښتيا الله ته آسانه دی. د دې لپاره چې تاسو په هغه څه افسوس ونه کړئ چې له تاسو څخه تېر شوي او نه په هغه څه خوشحاله شئ چې تاسو ته يې درکړي دي. او الله هر متکبر فخر کوونکی نه خوښوي). [الحديد سورت: 22-23 ايتونه]، او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ، وَلَيْسَ ذَاكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ، إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ، وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ»[22].

«د مؤمن چارې ته حیرانتیا ده، یقینا چې هره چاره یې په خیر ده، او دا له مؤمن پرته د بل چا لپاره نشته، که خوشحالي ورته ورسیږي نو شکر وباسي او دا د ده لپاره خیر دی، او که مصیبت ورته ورسیږي صبر کوي او دا د ده لپاره خیر دی».[1]

په تقدیر کې دوه ډلې ګمراه شوي دي:

یو له هغو څخه: جبریه ده، چې ویلي یې دي: بنده په عمل باندې مجبور دی او هغه پکې نه اراده لري او نه وړتیا.

دویمه: قدریه ده چې ویلي یې دي: بنده په عمل سره په اراده او قدرت کې خپلواک دی، او د الله جل جلاله مشیئت او قدرت پکې هیڅ اثر نه لري.

په لومړۍ ډله چې جبریه ده، شریعت او واقعیت دواړه رد کوي:

له شریعت څخه دلیل: دا دی چې الله بنده ته اراده او مشیئت ثابت کړي دي، او د عمل نسبت یې ورته کړی دی، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ...﴾

﴿...مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنۡيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلۡأٓخِرَةَۚ...﴾ (...په تاسو کې څو هم چا دنیا غوښته او چا آخرت...

---

1 مسلم: کتاب الزهد والرقائق، باب المؤمن أمره کله خیر، په (۲۹۹۹) شمېره روایت کړی دی.

) [آل عمران سورت: ایت 152]، او الله تعالی فرمايي:
﴿وَقُلِ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْۖ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْۚ إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَاۚ...﴾
الآية
﴿وَقُلِ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْۖ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْۚ إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَاۚ...﴾(او ووايه دا حق دی ستاسو د رب له خوا، نو څوک چې غواړي ودې مني او څوک چې غواړي نه دې مني، يقيناً موږ ظالمانو ته داسې اور چمتو کړی چې پردې يې له هغوی نه راچاپېرې دي...) [الکهف سورت: 29 آيت]، او الله تعالی فرمايلي دي:
﴿مَّنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦۖ وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَاۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ 46﴾
﴿مَّنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِنَفْسِهِۦۖ وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَاۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّٰمٍ لِّلْعَبِيدِ 46﴾ (چا چې نېک عمل وکړ نو د خپل ځان لپاره يې دی او چا چې بد وکړل نو (بد) هم پر هغه دي او ستا رب پر بندګانو ظلم کوونکی نه دی). [فصلت سورت: ایت 46].

او له واقعیت څخه دلیل دا دی چې: هر سړی د خپلو اختیاري عملونو په توپیر پوهیږي؛ هغه چې په خپله خوښه او اراده یې کوي لکه: خوراک، څښاک، پېر او پلور او هغه څه چې د هغه له ارادې پرته پېښیږي: لکه د تبې له امله لړزیدل او له بام څخه راغورځیدل، نو هغه په لومړي ډول عملونو کې د ارادې او خوښې خاوند دی پرته له کوم فشار څخه (یې تر سره کوي)، او په دویم کې چې څه ورته پېښیږي نه یې اختیار لري او نه هم اراده.

او په دويمه ډله چې (قدريه) ده هم له شريعت او عقل څخه رد دی:

له شريعت څخه: دليل دا دی چې: الله تعالی د هر شي پيدا کوونکی دی، او هر شی د هغه په خوښه شتون مومي، او الله تعالی په خپل کتاب کې دا خبره بيان کړې ده چې د بنده ګانو افعال د هغه په مشيئت سره پيښيږي، نو هغه تعالی فرمايلي دي:

﴿...وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ وَلَٰكِنِ ٱخۡتَلَفُواْ فَمِنۡهُم مَّنۡ ءَامَنَ وَمِنۡهُم مَّن كَفَرَۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلُواْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ﴾

﴿...وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلَ ٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِم مِّنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَتۡهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُ وَلَٰكِنِ ٱخۡتَلَفُواْ فَمِنۡهُم مَّنۡ ءَامَنَ وَمِنۡهُم مَّن كَفَرَۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا ٱقۡتَتَلُواْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يُرِيدُ﴾ (...او که الله غوښتلی نو دوی به نه سره جنګېدل، پس له هغه چې څرګندې معجزې هم ورته راغلې، خو سره وران شول نو ځينو يې ايمان راوړلو او ځينې يې کافران شول او (بياهم) که الله غوښتي وی نو دوی به نه سره جنګېدل خو الله هغه څه کوي چې اراده يې کوي). [البقرة سورت: 253 آيت]، او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَلَوۡ شِئۡنَا لَأٓتَيۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدَىٰهَا وَلَٰكِنۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ مِنِّي لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ 13﴾

﴿وَلَوۡ شِئۡنَا لَأٓتَيۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدَىٰهَا وَلَٰكِنۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ مِنِّي لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ 13﴾ (او که موږ غوښتي وای نو خامخا به مو هر کس ته د هغه لارښوونه ورکړې وه خو

زما له خوا دا خبره حق ثابته شوه چې زه به خامخا جهنم له پېریانو او انسانانو ټولو نه ډکوم). [السجدة سورت : 13 آیت].

او له عقل څخه دلیل دا دی چې: ټول کائنات د الله تعالی ملکیت دی، او انسان هم لدې کائناتو څخه دی، نو هغه هم د الله ملکیت دی، او دا نه شي کیدای چې مملوک دې د مالک په ملکیت کې د هغه له اجازې او خوښې پرته تصرف وکړي.

*

## د اسلامي عقیدې موخې (هدفونه)

د هدف اطلاق په لغت کې په ګڼو معانیو سره کیږي، له هغې څخه یوه یې: (نخښه ده چې د ویشتلو په موخه ودرول کیږي، او یا هر شی چې مقصودي ګرځول شوی وي)

او د اسلامي عقیدې موخې: هغه اهداف او سپیڅلي مقصدونه دي چې په نتیجه کې وربانديې منګولي لګول مرتب کیږي، او هغه موخې ډیرې دي او بېلابېل ډولونه لري: له جملې څخه یې ځیني په لاندې ډول دي:

لومړی: یوازې د یو الله جل جلاله لپاره د نیت او عبادت خالصول، ځکه چې هغه خالق دی، هیڅ شریک نلري، نو موخه او عبادت باید یوازې د هغه لپاره وي.

دوهم: په زړه کې د دې عقیدې د نشتوالي له امله د ګډوډۍ څخه د ذهن او فکر خلاصول؛ ځکه د چا زړه چې لدې څخه خالي شو نو د هغه زړه خو یا له هر ډول عقایدو څخه خالي دی او یوازې د مادي شیانو عبادت کوونکی دی، او یا هم په ګمراهو عقایدو او خرافاتو کې ګنګس شوی ډوب دی.

دریم: رواني او فکري راحت، ځان به يې له تشويشونو او ذهن به يې له ګډوډيو خالي وي؛ ځکه چې دا عقيده مومن له خپل خالق سره نښلوي؛ نو خوښ به وي چې يو چار سازی رب او د قانون خاوند واکمن لري، نو زړه به يې د خپل تقدير سره آرام وي او سينه به يې د اسلام لپاره پراخه وي. نو له هغه پرته بديل ته اړتيا نلري.

څلورم: د الله تعالی په عبادت کې له انحراف څخه د نيت او عمل خونديتوب او يا د مخلوقاتو سره په تعامل کې؛ ځکه چې د عقيدې له بنسټونو څخه پر رسولانو ايمان دی، چې په قصد او عمل کې د هغوی د سالمې لارې پيروي پکې شامله ده.

پنځم: په چارو کې ټينګښت او جديت، تر څو د نيک عمل فرصت له لاسه ورنکړي، پرته له دې چې ګټه ترې واخلي. د ثواب په هيله، او د ګناه هيڅ ځای نه ويني مګر له هغه څخه لرې کيږي؛ د هغې له سزا څخه د ډار له امله؛ ځکه چې د دې عقيدې له بنسټونو څخه يو په بيا راژوندي کيدو او په کړنو باندې بدله ورکولو باندې ايمان لرل دي.

الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ مِّمَّا عَمِلُواْۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُونَ 132﴾

﴿وَلِكُلّٖ دَرَجَٰتٞ مِّمَّا عَمِلُواْۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعۡمَلُونَ 132﴾

(او هر چاته له خپلو کړو وړو درجې (ټاکل شوې) دي او ستا رب له هغو کارو چې دوی يې کوي بې خبره نه دی). [الأنعام سورت: ايت 132] او رسول الله صلى الله عليه وسلم دغې موخې ته په خپل قول کې ترغيب ورکړی دی:

«الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ، وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ، احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ، وَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ، وَلَا تَعْجِزْ، وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلَا تَقُلْ: لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَذَا كَانَ كَذَا وَكَذَا، وَلَكِنْ قُلْ: قَدَّرَ اللَّهُ وَمَا شَاءَ فَعَلَ؛ فَإِنَّ (لَوْ) تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ»
«پياوړی مؤمن الله ته له کمزوري مؤمن څخه خوښ او غوره دی او په دواړو کې خیر دی، په هغه څه ټینګار وکړه چې ګټه درته رسوي او د الله تعالی نه مرسته وغواړه، او مه کمزوری کیږه، که چېرته درته څه - زیان - ورسیده نو داسې مه وایه: که چېرته مې داسې کړي وای، نو داسې او داسې به شوي وو، مګر ووایه: د الله تقدیر دی او هغه چې څه غوښتل هغه یې وکړل؛ ځکه د (که چیرته) کلمه د شیطان کړنې پرانیزي».
مسلم روایت کړی دی.[1]
شيېږم: د داسې یو پیاوړي امت رامنځته کول چې د خپل دین د ټینګښت لپاره هر قیمتي او ارزانه لګښت کوي، تر څو یې ستنې غښتلې کړي، او پدې لاره کې چې هر څه وررسیږي پروا یې نه ساتي، پدې اړه الله تعالی فرمایي:
﴿إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمۡ يَرۡتَابُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ 15﴾
﴿إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمۡ يَرۡتَابُواْ وَجَٰهَدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ 15﴾
(بېشکه مومنان هغه کسان دي چې پر الله او د هغه پر رسول

---

[1] مسلم په کتاب القدر، باب في الأمر بالقوة، وترك العجز، والاستعانة بالله، وتفويض المقادير لله، کې په: (2664) شمېره روایت کړی دی.

يې (پوخ) ايمان راوړی وي بيا (هيڅ) شک ونه کړي او د الله په لار کې په خپلو مالو او ځانونو جهاد کوي، همدا خلک رېښتيني دي). [الحجرات سورت: ايت 15].

اووم: د افرادو او ډلو په اصلاح کولو سره د دنيا او آخرت د نيکمرغۍ لاسته راوړل او د اجرونو او عزتونو حاصلول، په دې اړه الله تعالى فرمايي:

﴿مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ 97﴾

(چا چې نېک عمل وکړ، که نارينه وي که ښځينه خو چې مومن وي نو حتماً به ښه ژوند ورباندې تېر کړو او (آخرت کې به) د هغو نېکو عملونو چې دوی به کول، ښه بدله ورکړو). [النحل سورت: 97 ايت].

دا د اسلامي عقيدې ځينې موخې دي، موږ له الله تعالى څخه تمه لرو چې دا موخې مونږ او ټولو مسلمانانو ته محققې کړي، هغه سخي او عزتمند ذات دی، او ټوله ستاينه يوازې الله لره ده؛ هغه ذات چې د عالميانو رب دی.

وصلّى الله وسلّم على نبيّنا محمّدٍ وعلى آله وصحبه أجمعين.

د ليکوال په قلم سره دا ليکنه پای ته ورسيده.

محمّدٍ الصّالح العثيمين

# فهرست


د اسلامي عقيدې لنډيز .......................................................... 2
د اسلامي عقيدې لنډه پېژندنه...................................................... 2
سريزه ............................................................................... 2
اسلامي دين ......................................................................... 4
د اسلام بناوې....................................................................... 10
د اسلامي عقيدې بنسټونه ......................................................... 14
په الله تعالى ايمان .................................................................. 16
په ملايکو ايمان...................................................................... 37
په کتابونو ايمان...................................................................... 44
په رسولانو ايمان .................................................................... 46
د اخرت په ورځ ايمان............................................................... 56
په تقدير ايمان........................................................................ 81
د اسلامي عقيدې موخې )هدفونه( ................................................ 96


ps71v1.2 - 03/09/2026